بسم الله الرحمن الرحیم

تقریظ :شیخ القرآن والحدیث حضرت مولنٰا عبد الجبار خاکی صاحب حفظه الله ورعاه

حامدًاو مصلیاً اما بعد:

بنده فقیر پر تقصیر دجناب مولوی رضاء الله حفظه الله تصنیف شده کتاب چه مسمی دے په کتاب الحجامة د دے اکثر مواضع مطالعه کړه. ماشاء الله دا په خپله موضوع کښې بهترین کتاب دے او په قرانی ایاتونو، او احادیثو نبویﷺمزین شده تالیف دے . دست په دُعا یم چه الله تعالیٰ دي مؤلف لره اجر عظیم ورکړی او دا سعی د ورله قبوله او منظور کړی اوامت مسلمه دیدد ے کتاب نه مستفید وګرزه وی امین ثم امین.

الاحقر عبد الجبار خاکی صاحب۔

بسم الله الرحمن الرحيم

## عاجزانه التماس

انسان الله رب العزت ده خطايانو مجموعه پيدا كړے دے چه كوم كار كوي خامخا به ددی نه غلطۍ كيږی . خو بهترين انسان هغه دےچه په خپله غلطۍ باندی هميش والے او نكړی .

نو ځما حقير نه به هم ډيری غلطيانی شوی وی په دی كتاب كښې داغلطی واقع كيدل په كتاب كښې دايو امر طبعی دے . ځكه انسان هميش په يو حالت نه وی . دغسی علامه بن علی بن محمد الحصكفی ؒ فرمائی [ابی الله ان يكون كتاباً صحيحاً غير كتابه.] الله رب العزت انكار كوی چه يو كتاب دی صحيح شي دغلطۍ نه سيوا دخپل كتاب قرآن نه۔

امام شافعی فرمايي [ويابی الله العصمة لكتاب غير كتابه ] . ددی نه دا معلومه شوه چه دانسان كتاب ده غلطۍ نه نه شي بچ كيدلي.نو لهذا كتونكو ورونو ته ځما عاجزانه درخواست دے چه په وقت ده مطالعی كښې چه كومه غلطی محسوسه كړی نو ده تصحيح كوشش دی اوكړی او ده معافۍ نه دی كار واخلی اوكه تنبيه راكړی نو دا به ئې په مونږ احسان وی. كه چر ته څه فائده

محسوسه کړی نو مونږه عاجزان مسکینان دی په دعاګانو کښې یاد کړی.

څمونږه دا دعا ده چه الله رب العزت دی دا کتاب فائده مند او مقبول اوګرزوی.او څمونږ او ده والدینو، استاذانو، شاګردانو، دوستانو او رشته دارو او امة مسلمة دپاره دی ذریعه ده نجات په دنیا او آخرت کښې او ګرزوی امین ثم امین.

انا الاحقر: رضاء الله بن خان بادشاه صاحب

28092016

بوقت بعد نماز مغرب :6:40 بجے

الاحقر رضاء الله بن الحاج خان بادشاه شاه نرے شریف آباد نزد حاجی لونګ

مدرسه ترتیل القرآن شریف آباد

## تقريظ ډاکټر اصغر خان

مولنٰا رضاء الله صاحب نه صرف يو عالم ، فاضل انسان دے بلکه يو لوئی محقق او جدت پسند عالم هم دے مولانا صاحب چي کوم کتاب په حجامه ليکلے دے ماته نه خکاری چي چا داسے تحقيق او کوشش کړے وی

دوئد حضورﷺ په يو داسي سنت باندي کتاب ليکلے دے چی هغه زمونږ په معاشرې کښې ډير کم مسلمانان کوی بلکه د هغې نه نا خبره دی. ځه ده مولنا صاحب دے کوشش ته ډاډ ګيرنه ورکوم او خدائی دے نورهم توفيق ورکړی.

ډاکټر اصغر خان

ايم بی بی ايس (پشاور)

ايم سی پی ايس . جنرل سرجری

ايف سی پی ايس . جنرل سرجری

## تقريظ ډاکټر عزيز الحسن

### حامدًا و مصلياً

دمولانا صاحب د مختصر کتاب دمطالعےمقصد په امت کښې دمسنون طريقه علاج رواج عام کول او مسلمانوته په يو ځو مخصوص طريقو سره د علاج تعارف کول دی.

چه په هغه کښې سورة فاتحه اوشهد الحجامه مبارك او پاکيزه اعمال شامل دي.اخر کښې دا چه د بيمارئ نه پس صحت مقصود نه دے بلکه قرب الهٰی مقصود دے کم چه د سنت نه بغير ناممکن دے.

فقط

وَفَوقَ کل ذِیُ علمٍ عليم

ډاکټر عزيز الحسن

ايم بی ايس(آر ايم پی)

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

()حجامه يعنی ښکر لګول د نبی کريم ﷺ سنت مبارک دے او يو بهترين علاج دے په علاجونو کښې.

()رسول ﷺ په خپله هم ښکر لګولے او نورو انسانانو ته يې ددے ترغيب هم ورکړے.

()امام بخاری رحمه الله په خپل کتاب صحيح بخاری کښې په حجامه باندی پنځه بابونه راوړيدي.

()رسول ﷺ چه کله معراج ته تشريف يوړو نو فريشتو نبی ﷺ ته درخواست وکړو چه خپل امت ته ددے حکم وکړه چه ښکر ولګوی.

()ښکريو پخوانی او انتهائی فائده مند علاج دے دګرمو او يخو دواړو علاقو دپاره فائده مند دے، ده چين دا قومی علاج دے او په ټولو کښې ډير زيات مقبول دے.

()دعرب ملکونو نه علاوه په جنوبي ايشياء ملکونو کښې هم ددې رواج دے

(۷)دامريکی او يورپ په يونيورسټيانو کښې هغه طلباء چه کوم آلټر نيټو ميډيسن (Alternative Medicne) زده کوي نو هغوئ حجامه پخپله هم زده کوی اونورو ته ئی هم ښائي کوم کس يا ډاکټر سړے وی او که ښځه چه د حجامه طريقه زده کوی ددې په سبب نو پکاردہ چه د تجربه کار استاذ نه علاج زده کړی پخپله دی تجربه نه کوی.

ځکه چه دامتل دے نيم طبيب خطره ي جان است نيم ملا خطره ي ايمان است.

()پدی مختصر کتابچه کښې به مونږ د حجامه تعارف کوواود نبیﷺاحاديث مبارکه به نقل کوو. بيا به د هغو مرضونو ذکر کوو چه د کومو علاج دښکر په ذريعه کيدلے شی او ددی عملی طريقه به هم ليکو.

()او په اخر کښې به دتصوير ونو په مدد سره نشاندهی شوی وی چه د کوم مختلفو مرضونو دپاره ښکر لګولے شی.

(۰)طريقه زده کول ي اسان دی په يوه ګهنټه کښې زده کيدلے شی.

# اظهار تشكر

دالله جل شانه شكر او احسان دے چه ما عاجز ته ي د حجامه دخود لوتوفيق را كړو او ددےپه سبب ئي د علاج كولو موقع هم په لاس را كړه، او درود او سلام دي وی په محمد ﷺ چه رَحۡمَةٌ لِلۡعَالَمِيۡنُ دے او دانسانانو دروحانی شفاء دپاره راغلے.

زه شكر گزار يم د ډاكټر عزيز الحسن قاری ډاكټر سلطان زيب او ابومروان عنايت الله صاحب،

چه زما سره ئی په دے كتاب كښې خپله مرسته او امداد او كړو.

مادد ی كتاب زياته استفاده دنورو كتابونو نه علاوه دډاكټر امجد احسن علی (مدير مدرسه ابن عباس رضي الله عنه كراچی)نه كړی ده الله دی په خپل دربار عاليه كښې قبول او منظور كړي.

اصل خبره داده چه په هر كار كښې كه ددنياوی او كه ده آخرت اخلاص پيدا كول پكار دی.

لکه حجامه شوه دغه رنګی علم طب نبوی شو ددے دنشتوالی وجه هم داده چه ددې رواج ختم شو او بخل توب پیدا شو په دی کښې طبیب یوه نسخه هم چاته نه ښائی که په ډیر قیمت ولی نه وی.

او هر چه ډا کټری علاج دےهغه ورځ په ورځ مخ په وړاندی روان دے وجه هم داده چه بخل شو متوب پ کښې نشته نوز ما عاجزا نه التماس دادے چه څه شي چاته زده وي هغه دی بل چاته دا نسانیت دفائدې ورکولو جائز بل ته اوښايي ځکه چه دیو انسان بچ کول د ټولو انسانانو بچ کول دی او دابه دده دپاره صدقه جاریه وی الله دی دا هر څه په مونږ کښې عملی طريقی سره راولی.

الله دې ددی کتاب اجرزما والدين استاذانو او اقرباء او اَصدقاء ته ورسوی.

امین

(دعاګو رضاء الله بن خان بادشاه)

## هغه مرضان چه کو مولره مونږه علاج کړے او الله ورته صحت ورکړيدے.

()ده بلډ پريشر واله()خارش واله()زخو والا د چاپه بدن چه زخي وی()دمعدی مريض() د گيس مريض()په بدن کښې گنده داني وی()گنجی()عرق النساء()دملا درد (٠)دسر درد ()دپنډو درد () د ټينشن دوجه نه د سر درد ()نفسياتی مريض ()په سر کښې چکرر راتلل () د پړکو درد ()الرجی ()دگيټو غورزيدل () دغوږونو زخم () سپونړی(٠)تور زيړے-وغيره

## (دمريض په خدمت باندي ډا كثر ته الله ميلا ويږی)

عن ابي هريره رضی الله عنه قال: قال رسول ﷺان الله عزوجل يقول يوم القيامة ، يا ابن ادم مرضت فلم تعدنی، قال يا رب ،كيف اعودك وانت رب العلمين؟قال اما علمت ان عبدي فلانا مرض فلم تعده؟ اما علمت انك لوعدته لوجدتنی عنده. الخ

ترجمه: حديث قدسی دے د حضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه دالله رسول ﷺ ارشاد فرمايلی: الله سبحانه وتعالی به دقيامت په ورځ او فرمائی اے د آدم بچيه زه بيمار شوے ووم تا زما بيمار پورسي ولی نه وه کړی

بنده به عرض اوکړی اے ربه زه ستا څنګه بیمار پورسي وکړم ته خو رب العالمین ئي.

الله تعالیٰ به ارشاد فرمائی ایا تا ته پته نیشته چه فلانے بنده زما بیمارشوے وو تا دهغه بیمار پورسی نه وه کړي ایا تا ته پته ده که تا دهغه بیمار پورسی کړے وے نو تا به زه هغه ځائے موندلے وے.

علماء فرمايي چه کله یو وګی انسان ته ډوډئی ورکول اوتګی ته اوبه ورکول پدی بدله او ثواب میلاویږی نو دمریض په بیمار پورسئ او خدمت باندی خو پخپله الله میلاویږی حاصل د خبرےدا شو چه په طبابت او ډاکټرئ باندی پخپله الله ملاویږی ډاکټرانو رونولره پکاردی چه الله ته رجوع وکړی.

طبیب لره د مریض په لیدلو باندی مخکښی رجوع الی الله پکارده او د مریض په لیدو باندی درے کرته (ایاك نعبد و ایاك نستعین) لوستل پکار دی دمریض عیادت او د هغه علاج عبادت دے په مشکوة شریف کښي روایت دے.

عن انس بن مالك رضی الله عنه قال: قال رسول ﷺ:من توضا فاحسن الوضوء وعاداخاه المسلم ،بو عدمن جهنم مسيرة سبعين خريفا(سنن ابی داود رقم)

**ترجمه:** دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمایلی چه څوك ښایسته او دس وكړی او بیا ده مریض عیادت لره په نیت داجر او ثواب لاړشی نو دا كس به د جهنم نه اویا. ۷۰ كاله فاصله باندی لری كولے شی. څه خوش قسمته دے هغه انسان چه هر وخت دمریض عیادت كوی. ډاكټرانو ته زما داعاجزانه خواست دے چه د مریض معاینه په اودس كښې اوكړی په شریعت كښې داهم یو داسی بهترین عمل دی چه دهغه دپاره دی اودس جائز شی.

كه چرته د مریض په لیدو باندی بیا هم دالله دنزدیكت احساس ونشی نوددې ډاكټر داعبادت ناقص دےیا یې په نیت كښې نقصان دے او مقصد صرف پیسه حاصلول دی یا یې د سترګو حفاظت نیشته یایې الله تعالیٰ ته د نزدیكت نیت نه شته.

دطبیب دپاره اصل جو هر دادے چه د مریض په خدمت ورته الله میلاوشی اوچاته چې الله میلاوشو نو هغه كامیاب شو او كه علاج كوی او الله ورته میلاونشونو صرف ددنیا نه ورته علاوه هیڅ میلاو نشو الله رب العزته په هر څیز كښې خپله رضا را كړه هسی نه چه هندو سترے او الله والا خفه خبره نشی.

## (دمريض خير خواهی)

دمرض دمقاصدونه يو داهم ده چه انسان توبه اوباسی او الله طرف ته واپس شی ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی.

(ولنذيقنهم من العذاب الادنیٰ دون العذاب الاكبر لعلهم يرجعون)(السجدة: )

ترجمه: خامخا څکوو مونږه وړوکے عذاب مخکښی د لوئی عذاب نه ددے دپاره چه دوئی ماته واپس شی.

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روايت دے چه د(العذاب الادنیٰ)(وړوکی عذاب)نه مراد د دنيا بيماريانی او مصيبتونه دی د مرض په حالت کښې د مريض زړه انتهايي نرم وی نو چه په کومه موقع اووخت باندی ډاکټر د مريض خواته راشی نو دطبيب اول فرض دادی چه دمريض رجوع الله طرف ته وکښی مثلا دا مريض مونځ نه کوی نو د مونځ تلقين ورته وکښی که قران ته نه کينی نو د قران د کينا ستو درس دي ورکړی که تبليغ نه کوی نو دتبليغ ترغيب دي ورکړی اودامريض دګناهونونه دی توبه اوباسی.

## (دحجامة څه اداب)

دټولو نه مخکښی دحجامة اداب پيژندل پکار دی .ده حجامة څه اداب

دە طبيب متعلق او څه اداب د مريض متعلق دی.

دطبيب متعلق اداب څه په دی ډول دی.

()نيت خالص دالله د رضا دپاره او دالله مخلوق ته فائده رسول او د مريض سره رشتونی خير خواهی کول حديث کښې دی دارومدار داعمال په نيت سره دے(بخاری) بل حديث دے خير الناس من ينفع الناس (مسلم)

ترجمه: بهترين په انسانانو کښې هغه انسان دےچه نورو انسانانو ته فائده رسوی. لهٰذا په خالص نيت سره مسلمان ته نفعه رسول دا به مدنظر وی.

()صداقت اوديانت په هر معامله کښې ضروری دے دغه رنګی په حجامة کښې هم ضروری دی چه دمريض کوم کيفيت وی .او د هغه سره چه کومه معامله وی هغه به په صداقت وی. خدا نخواسته که دروغ راشی يا حقيقت پټ شی نو ددی مسنون عمل برکت به ختم شی.

()دمريض سره دخير خواهئ معامله کول .ددی سره څه مالی يا عملی خيانت کول يا دمريض علاج په ځان بوج کول يا کوتاهی کول دا خبري ممنوع دی په يو حديث کښې راځی چه صحابه رضی الله عنهم په دری خبرو د نبیﷺ سره بيعت کړےوو مونځ کول .زکوٰة ادا کول. د هر مسلمان خير خواهی کول .()کله کله په څه وختونو کښې د مريض حجامة دڅه وجه نه ونه شی بيا دزياتوالی پوره

كول ضروري دی .() انسان ته مختلف مرضونه مخې ته راځي كله داسی مرضونه وي چه مريض ئی صرف طبيب ته دضرورت په بنا خودلے شي ليكن داسي هيڅ كله نه ده چه ددے مريض پته دی دےته ونه لګی نو په داسی حال كښې طبيب اوحجام ذمه وار دےدمسلمان ورور پر ده پوشی كول لوئي فضيلت لری حديث شريف كښې راځی چه څوك په مسلمان رور پرده راواچوی نو ـ

الله به په دےانسان په دنيا او آخرت كښې پرده راواچوی (مسلم)ليكن داسي مرض خپل كور واله ته يا بل چا ته دمصلحت په وجه خودلے شي كه په حجامة كښې داسي عورت وی نو ددغه ځاے نه علاوه بل مقام ته كتل جائز نه دی . دالله نه يره كول پكار ده.

() خوش اخلاق د هر مسلمان نه مطلوب ده ليكن ظاهره خبره ده چه كوم انسان ده يو مبتلا مريض خدمت كوي نو دهغه دپاره زيات ضرورت دے داځكه چه عام طور باندی دبيمارو خلقو مزاجونه عجيب او بدل وی عام انسان ددے مزاج نه نفرت كوی ليكن حجامة لګولوواله داهم يو طبيب دے دابه هم د خلقو مزاجونه برداشت كوی هسي نه چه د بد اخلاقئ د وجه نه داسنت عمل او علاج متاثر نه شی .

()دحجامة لګونكښی دپاره ضروری ده چه ددی طريقه علاج او ددي چه كوم ضروری احكام په شريعت كښې موجود دی ددي علم به ورته وی هسي نه چه

غير شرعي عمل اوکړی او که چاته اشتباه او شك وی نو د ماهرينو نه دي راهنمائی حاصله کښې او په دی معامله کښې دي شرم نه کوی.

() دحجامة لګولو په وخت کښې دی مريض ته تسلی ورکوی او دعائيه کلمات دی ورته ښائی ددي دپاره چه د مريض زړه مطمئن شي او دويم د مريض توجه دی ده الله طرف ته کوی چه شفاء ورکونکے صرف يو الله دے.

## (ده مريض متعلق آداب)

(ا)مريض دي دا علاج د نوروعلاجنو په شان نه ګنړی بلکه دادی سنت او پيغمبری علاج وګنړی.

()مريض دي په علاج کښې دسنت د برکت حاصلولو نيت وکړی.

() په دی علاج کښې چه کوم مال خرچ کړی او کومه وينه ووزی نومريض دي د صدقې کولو نيت وکړی .

()دحجامة لګولو په دوران کښې دے اول او آخر کښې درود شريف سورة فاتحه اية الكرسی لولی.

()ده حجامة لګولو نه بعد دي خپل ګلاس په ښه طريقې سره صفا کړی او يادي د

نور مستعمل شوی سامان سره خخ کړی.

()دحجامة لګولو نه پس . یا پنځلس منټه په تړمو اوبو سره غسل اوکړی او که د حجامة مقام او ځائے ئي د زیتون په تیلو مالش کړو نو مفید دی او که مالش نه شو نو هم صحیح دہ.

()دښکر لګولو واله دے اجرت او مزدوری طبیب لره ورکړی ځکه داهم دنبیﷺدسنت حصه ده.

()حجامة په خالی خیټه کول ضروری دی.

()دسختي بےهوشئ نه بعد فوری حجامة نه لګول. (۱۰)غه رنګی ګینتی میډیسن دوائی د مخکښی نه . نه استعمالول.

(ازقلم اخبار)

## (مرګ یو منلے شوے حقیقت دے)

مرګ داسي یو منلے شوے حقیقت دے چه ددنیا په سر داسې انسان نشته چه ددي نه انکار اوکړی داسی خلق شته چه په وجود ده الله عزوجل کښې شك کوی خو مرګ دهر یه هم منی شك پکښی نه کوی.

او دمرګ دپاره یو وخت مقرر دے دانه په حکومت روسته کیږی نه په وزارت اونه په دولت نه په قوت نه په دوايي نه په حکمت نه په وفادارئ او نه په محبت.

()که مرګ دحکومت په ذریعه منعه کیدلے نو فرعون ته به هیڅ کله نه وے

راغلے.

()که مرګ دوزارت په ذریعه منعه کیدلے نو هامان ته به هیڅ کله نه وے راغلے.

()که مرګ په مال دولت منعه کیدلے نو قارون به په دنیا کښې همیشه وے.

()که مرګ د قوت او پهلوانئ په سبب منعه کیدلے نو روستم او سهراب به همیشه وے په دنیا کښې.

()که مرګ ددوائی په ذریعه ختمیدلے نو افلاطون او جالینوس به نه وے مړه.

() که مرګ د حکمت اوپوهې په نسبت ختمیدلے نو لقمان حکیم به همیشه وے په دنیا کښې.

()که مرګ ده وفادارئ په ذریعه منه کیدلے نو هیڅ کله به د نیکی بی بی دسترګو مخې ته ده خپل خاوند نه روح پرواز نه کولے.

()او که چرته مرګ د محبت په وجه منعه کیدلے نو هیڅ کله به دمور په غیږه کښې ده خپل خوږ معصوم بچی روح سخا نه کولے.

نو پته ولګیده چې مرګ په علاجونو نه ستنیږی صرف سبب دے ځکه دنیا دارالا سباب ده. (بکھرے موتی جلد صفحه )

اخر د دي دنیا نه تګ دے که هر څومره زندګی شی عون بن ابی شداد ذکر کوی چه کله نوح عليه السلام ته نبوت میلاو شو نو ده هغه عمر (٠)کاله وو او قوم ته ي

مسئله ۰ کاله کړي وه او د طوفان نه پس بیا( .) کاله جوندے وو ټول عمر د نوح ﷺ(۰) شپاړس نیم سوه کاله وو کله چه وفات کیدو او ملك الموت ورله راغلے.

وقال ملك الموت فكيف وجدت الدنيا قال نوح عليه السلام مثل دارٍ لها بابان دخلت من هٰذا وخرجتُ من هٰذا.

ترجمه: ملك الموت يعنى د مرګ فرشتي ترى تفوس اوکړو اے نوح ﷺ دنيا دے څنګه بيا موندہ. نو نوح ﷺ اوفرمائيل په شان د يو کو ر باندى چه دهغى دوه دروازے وى په يوه داخل شوم او په بله اووتلم. (كتاب ده زخمى زړه آواز)

## (فضائيل)

## (د مريض عيادت او هغه لره تسلى ورکول ده هغه خدمت او همدردى)

نبى ﷺ په لويه درجه باندى نيك عمل پشان ده يو قبول شوى عبادت خودلے او په جدا جدا طريقو سره ي ترغيب ورکړے.

په خپله د نبى ﷺ دستور او معمول ووچى د مريضانو بيمار پورسى به ي کوله.

مريض ته به ي داسي خبري کولي چه د هغه تسلى اوشى او غم ي سپك

شي.

د الله نوم او د الله كلام ويل او په هغه دمول او نورو ته هم ددي تلقين كول.

ده بيمار پورسئ مقصد دادي چه د يو خپلوان او دوست خوا ته لاړشي او لگ ساعت كيني او تسلي وركړي داسي نه چې هلته ديره شي او په تكليف كېږي ئي اوغرزوى په دي سلسله كښې لاندى احاديث ياد ساتئ.

عن ابي هريره رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ من عاد مريضاً او زار اخاًلَهُ فى الله ناداه منادٍان طبت وطاب ممشاك وتبوات من الجنة منزلا( رواه الترمذى وقال: هذا حديثحسن غريب باب ماجاء فى زيارة الا خوان، رقم ٠٠)

ترجمه: ده ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے

چه کوم کس د يو مريض عيادت دپاره يا د يو ورور مسلمان ملاقات ته لاړشي خالص د الله د خوشحالولو دپاره نو يو فرشته دى انسان ته آواز كوى چه ته بركت والا ئي ستا تلل بركت والا دى او تا په جنت كښې ځائے ونيولو.

عن ثوبان رضی الله عنه مولى رسول ﷺ عن رسول ﷺ من عاد مريضا لم يزل فى خرفة الجنة قيل يا رسول الله ﷺ وما خرفة الجنة . قال جناها.

(راو مسلم، باب فضائل عيادت المريض)

ترجمه: ده نبى ﷺ ازاد شوى غلام ثوبان رضی الله عنه نه روايت دے چې رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے چې كوم كس د بيمار بيمار پرسى اوكړى نو دا به

هميشه دجنت په خرفه کښې وی سوال وشو اے دالله رسول ﷺ دجنت خرفه څه ده. نبیﷺ ارشاد او فرمایل میوه د جنت .اے مسلمانه دا ستا نه ده خوښه چه الله درله د جنت میوه درکړی.

عن انس بن مالك رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: ايّما رجل يعودمريضا فانّما يخوض فی رحمته فاذاقعد عند المريض غمرته الرحمة ،

ترجمه: دا نس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے هغه فرمايي چه ما د نبی عليه السلام نه اوریدلی دی چه فرمائیل به يي چه کوم سړے د بیمار بیمار پرسی اوکړی نو دا د الله په رحمت کښې غوپه وهی او چه کله دمريض خواته کینی رحمت يي پټوی.

قال فقلت : يا رسول الله ﷺ هذا للصحيح ، الذی يعود للمريض ماله قال:تحط عنه ذنوبه(رواه احمد)

ترجمه:

حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ دا غوره والي خو دهغه روغ دپاره شو چه چا عیادت کړے وی.نو د مریض څه فضیلت شو . نو نبيﷺ اوفرمایل ددي مریض ګناه معاف کیږی.

عن عمر بن خطاب رضی الله عنه قال : قال لی النبی ﷺ اذا د خلت علیٰ مريض فمره ان يدعولك فان دعاءه کدعاء الملائكة

(راوه ابن ماجه باب ماجاء فی عيادت المريض رقم: )

ترجمه: حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه نه روايت دے چه نبیﷺ ماته ارشاد اوفرمايلو چې کله ته د مريض خواته داخل شي نو هغه ته حکم وکړه چه تالره دعاء اوغواړی. ځکه ددی مريض دعاء ده فرشتو ددعاء پشان ده.مطلب دا چه ددی مريض دعا قبليږی.

عن ابی سعيد قال: قال رسول الله ﷺ اذا دخلتم علیٰ المريض فنفسوا له فی اجله فان ذالك لا يرد شيئا و يطيب نفسه.(رواه الترمذی وابن ماجه)

ترجمه: دحضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائي چه کله تاسو د مريض خوا ته لاړ شئ نو د هغه د عمر په باره کښې د هغه زړه خوشحاله کړئ. يعنی د هغه د عمر په باره کښي او زندګي په باره کښې هغه ته خوږی خبري کوئ. مثلاستا حالت او صحت ماشا ء الله اوس صحيح دے .انشاء الله ډيرزر به جوړ شي دغه رنګي خبري هيڅ شئ نه شی منعه کولي (چه څه کيږی هغه کيږی)ليکن د مريض زړه ورسره خوشحاليږی . او دا هم د عيادت مقصد دے.

عن انس قال کان غلام يهودی يخدم النبی ﷺفمرض فاتاه النبیﷺ يعوده فقعد عند رئسه فقال له اسلم فنظر الی ابيه وهو عنده.

ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دے چه يو يهودی هلك د نبیﷺ خدمت به ئي کولو بيمار شو نو نبیﷺ راغلے. ددي هلك عيادت ئي کوواو دهغه

دسر خواته کیناستونو نبی ﷺورته اووئیل اسلام راوړه نو هغه خپل پلار ته اوکتل او پلار ئې ددې خواته وونوپلار هلك ته اویل چه ده ابو القاسم خبره اومنه نو ځوان اویل چه زه ګواهی کومه ددی خبری چه د الله نه علاوه بل حاجت پوره کولو واله نشته او یقیناً ته د الله استازے ئې . نوځوان په دغه وخت وفات شو .نو نبی ﷺ رابهر شو مخ ي روښانه وو او خاندل ي او نبی ﷺ بیا بیا اوئیل صفتونه د یو والی خاص الله لره دی چه دا هلك ي زما په ذریعه د اور نه بچ کړو.

تشریح:ددي حدیث نه دا معلومیږی چه ده بعضو غیر مسلمو هم د نبی ﷺسره خادمانه تعلق وو. او بله خبره تري دا معلومیږی چه نبیﷺد کافروهم عیادت کړےوو اودریمه خبره ترینه دا هم معلومه شوه چه کافرو ده نبيﷺسره لګ قدری تعلق راغلےنو دنبی ﷺنه دومره متاثره شوی دی چه خپل بچی ته وائی اسلام قبول کړه او اسلام قبلول ورسره بهترین د کامیابی وسیله ګرزی.

دا به ولی نه وی ځکه نبی ﷺرحمة للعالمین وو صرف په انسانانو نه په ځناورو مهربانه په ونو مهربانه او په اوبو مهربانه وو نو په انسان به ولی نه وی ځکه الله انسان اشرف المخلوقات پیدا کړے دے.

نو رازئے مونږه لره پکار دی چه د هغه هر ه ادا خپله کړو . چه مونږه لره شفیع په آخرت کښې اوګرزی.

(په مريض باندې دم اچول او هغه لره د صحت دعا كول)

عن عايشه رضى الله عنها قالت كان رسول الله ﷺ اذا اشتكىٰ منّا انسان مسحه بيمينه ثم قال اذهب الباس رب الناس واشفِ انت الشافى لا شفاءً الا شفاءك شفاءً لا يغادر سقماً(راوه البخارى والمسلم)

ترجمه: عايشه رضى الله عنها نه روايت دے چه كله به زمونږ نه يو انسان بيمار شو نو نبى ﷺ به خپل لاس په هغه مريض راښكو او بيا به ي دا دعا اووئيله.

ترجمه: اے د ټولو بندګانو بالونكيه ددے بنده نه تكليف لري كړه او صحت وركړه ته صحت وركونكے ي شفاء هم ستا شفاء ده الله داسي كامل صحت وركړي چه بيمارى پرى بلكل نه رازى.

(داحديث بخارى او مسلم نقل كړے)

د حضرت عبد الله بن عباس رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به د حسن او حسين رضى الله عنهما په باره كښې د الله نه پناه په دي دعا غوښتله.

اعيذ كما بكلمات الله التامة من كل شيطان وهامة ومن كل عين لا مة.

ترجمه: زه پناه غواړم ستاسو دپاره د الله نه په پوره كلمو باندې د هر شيطان او د زهريله ځناورو او د هرى سترګي اثر والا د شر نه . او بيا ي او فرمائيل چه ستا نيكه ابراهيم عليه السلامبه په دى باندې اسماعيل عليه السلام او اسحاق عليه السلام

دمول.

**حديث :** د حضرت عايشه رضی الله عنها نه روايت دے چه كله به نبی ﷺ په خپله بيمار شو نو قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دا به ي او لوستل او په دواړو لاسونو به ي دم كړه او په ټول بدن به ي راښكل او چه كله ي درد زيات شو او مرض موت پری راغي نو ما به دا سورتونه لوستل او ده نبی ﷺ په لاس مبارك به مو دمول او بيا به مو د هغه په بدن راښكل .

نو مونګه لره هم داسي پكار ده چه د نبیﷺ دپا كو ارشادا تو مباركو نه فائده واخلو چه دنيا او آخرت مو خه شی.

## (دصحت بنيادی اُصول دقران او حديث په رنړا كښ)

صحت د الله رب العزت ډيره لوئی فيرزو او نعمت دے او په سلو كښې سل فيصده انسان ددي نعمت په ناشكرئی كښې اخته دے. ددی نعمت قدر انسان له هله ورشی چه كله دا نعمت ده انسان نه واخلی بيا به روستو ډير افسوس كوی خو توكلی لاړي بيرته خولی ته نه راځی.

يو حافظ صاحب وو هغه به وئيل چه په دنيا كښې مو نور هيڅ ارمان نيشته خو چه صرف الله راله لس مينټه سترګی بينا كړی چه دا دنيا سنګه ده.

حديث شريف كښې راځی نعمتان مغبون فيهما كثير من الناس الصحة والفراغ

(رواه البخاری)

ترجمه: دوه نعمتونه داسي دي چه ددي نا قدرئ او ناشكرئ په وجه باندي ډير خلق په نقصان او تاوان كښې دي.

چه اول صحت دے او دويم فراغت، اے انسانه دوړاه نعمتونه د الله په غلامئ كښې خرچ كړه مزه هم په دي كښې ده او دا مشهور شعر دے

زندگی آمد برائے بندگی

زندگی بے بندگی شرمندگی

د اللهد غلامئ او بندگئ نه علاوه شرميدل دي.

## (دانسان پريشاني او د هغه واحد علاج)

الله رب العزت ټولو انسانو ته يو پوره قانون وركړے دے الله فرمائي (الا بذكر الله تطمئن القلوب) (الرعد:)

ترجمه: خبردار ياد وساتئ صرف د الله په ذكر باندي زړونو ته اطمنان راځي.

روح او زړه دا د انسان د جسم اصل دي او دي دواړو ته حقيقي سكون او راحت د الله په ذكر راځي اګر چه عارضي سكون په بعض مادي څيزونو باندي هم حاصليږي. خو چه كله دغه اسباب ختم شي. نو سكون هم ختميږي، دذكر دپاره مونځ كول هم دے الله ارشاد فرمائي: واقم الصلوٰة لذكري (طه ايت)

ترجمه: ودروه مونځ دياد زما دپاره.

د اندازي مطابق نن سبا صرف فيصد ه مسلمانان به مونځ كوي او په

دي کښې به هم ډیر کم داسي وی چه هغه په طریقه د نبیﷺوی ددی وجه نه ټول انسانیت پریشان د څلور واړو طرفونو نه په فکرونو کښې راګیر دے ددي په وجه خلق په ټینشن او د بې خوبۍ په مرضونو کښې مبتلا دی.

ددي علاج اسلام خود لےدے چه کله د انسان زندګی د الله د احکامو مطابق شوه نو ټول مسائل به حل شي په هغه احکامو کښې مونځ هم دے چه د مومن معراج او د دین ستن ده.

د انسان د جوند اول مقصد د الله رب العزت په احکامو عمل کول او دویم دا احکام ټول انسانیت ته رسول دی. که ډیر خوراک دے حیوناتو له ئي ورکړے،که سیل دے دهوا مرغو او کړو، که تازه خوارکونه وی نو ده ځنګل ځناورراوکړو، او سره د دي نه حساب ورسره نه شته.

اے انسانه په ګریوان کښې سر خکته کړه زما او ستا مقصد په دي فاني کور کښې د الله خوشحاله کول دی .حدیث شریف دے. دخود پسندئی نه ځان بچ کړئ.ځکه د الله بندګان د مزو حاصلولو واله نه دی.

## (دشفاء ایاتونه)

ده حضرت شیخ ابو القاسم نه نقل شوی دی هغه وائي چه یو ځل زمابچے ډیر سخت بیمار شومونږ ه ټول دهغه د زندګئ نه ما یو سه شو په دي دوران کښې ما نبی ﷺ په خوب کښې اولیدو او نبیﷺ زما نه د بچی د

بیمارئ په باره کښې تپوس اوکړو او نبیﷺ اوفرمائیل ته ولی د شفاء د

ایاتونو نه ناخبره ئې چه کله زه بیدار شوم او په قران کښې مي ایاتونه د شفاء

تالاش کول نو ما په شپږو ځاینو کښې ایات الشفاء او مندل هغه دادی.

()ویشف صدور قوم مومنین.

()وشفاء لما فی الصدور.

()یخرج من بطونها شراب مختلف الوانه فیه شفاء للناس.

() وننزل من القران ما هو شفاء ورحمة للمئومنین.

()واذا مرضت فهو یشفین.

() قل هو للذین امنو هدی وشفاء.

نو چه کله ما دا ایاتو نه ولیکل او په اوبو کښې می په بچی اوسکل نو جلد الله جوړ

کړو. دغه رنګی حضرت شیخ تاج الدینؒ نه نقل دی هغه ویلی دی چه ما ډیر

مشایخ لیدلی دی چه د مرض نه دہ شفاء حاصلولو د پاره به ي دا ایاتونه لیکل.

الله دي زمونږ عقیده د الله په مظلوم کتاب برابر کړی او الله دی زمونږ د ټولو

مشکلاتو اسانوونکے اوګرزئ. امین ثم امین

## (دتهجدو په مونځ کښې صحت)

دتهجدو مونځ صحت دپاره انتهائی مظبوطه ذریعه دہ دہ تهجدو

پهمونځ کولو باندی د انسان دننه طبیعت خوشحالیږی او داسی نورانیت

محسوسوی چه ټوله ورځ وی دا په هیڅ قسم دوائی سره نه میلاویږی.

عن ابي هريرة رضي الله عنه: ان رسول الله ﷺ قال: يعقد الشيطان علىٰ رءس احدكم اذا هو نام ثلاث عقد يضرب علىٰ كل عقدةٍ : عليك ليل طويل فارقد ، فاءن استقيظ فذكر الله تعالىٰ: انحلت عقدة ، فان توضا انحلت عقدة ، فان صلى انحلت عقده كلها ، فاصبح نشيطاً طيب النفس ، والا اصبح خبيث النفس كسلان. (رواه مالك والبخاري ومسلم وغيره)

ترجمه: حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه د الله د پيغمبر ﷺ ارشاد مبارك دے چه كله ستاسو نه يو كس اوده كيږی نو شيطان ددي څټ له دري غوټې وركوی او په هر ه غوټه باندي دا خبره كوی. عليك ليل طويل فارقد . ترجمه: ستا دپاره دا شپه ډيره اوږده ده اوده شه . نو چه كله انسان ويخ شی او ذكر د الله اوكړی. مثلا (الحمد لله الذی احيانا بعد ما اماتنا واليه النشور)نو يوه غوټه كولاوشی ، كه اودس اوكړی نو بله غوټه كولاوشی ، او كه مونځ اوكړی نو ټولې غوټې كولاوشی.او دا انسان دصبا په وخت كښې ترو تازه هشاش بشاش اوګرزی ، او كه چرته خدائی مه كړه داسی ونكړی نو دا انسان انتهائی خفه او سست وی.

وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال ذكر عند النبی ﷺ رجل نام ليلة حتى اصبح ! قال : ذاك رجل بال الشيطان فی اذنيه، او قال فی اذنه (متفق عليه) رياض الصالحين

ترجمه: د عبد الله بن مسعود نه روايت دے هغه وائی دنبی ﷺ خواته ديو

سړی ذکر وشو د شپې او ده وو تر دې چه صبا شو. نبی ﷺ او فرمائیل دا سړي چه دے شیطان دده په غوږونو کښې متیازي کړی. نو مونږه لره پکار دی چه دتهجدو مونځ په یو حالت فاتی نه کړو. د مریض فریاد صرف الله اوری. زمونږه استاد شیخ القران مولانا محمد طیب صاحب به دا واقعه بیا نو له چه یو جولا وو ایوب نوم ي وو ډیر زیات بیمار وو یو وخت ډیر زیات تنګ شو سوال ي دشپې اوکړو اے الله زه ستا بنده ایوب پیغمبر نه یم زه ستا بنده ایوب جولا یم زما نه تکلیف ختم کړه دا وایي چه زما زړه کښې راغلل چه په ډېره واوړه په ډېره واوختم ددي نه مخکښی په ډېره هم نشومه اوختلے بیا می زړه کښې راغلل پاسه بیا پاڅیدمه بیا می مونځ اوکړو او الله روغ کړم. مقصد می دا دے چه د الله نه اوغواړه خوشحالیږی. یو شاعر وایی (الله یغضب ان ترکت سؤاله ، وبنی ادم حین یسئل یغضب)

ترجمه: الله خفه کیږی کله چه د الله رب العزت نه نه غواړی مطلب دادي چه په غوښتلو خوشحالیږی او انسان نه چه غواړی خفه کیږی، کله چه شپه دریمی حصې ته اورسی الله رب العزت د خپل شان مطابق نزدي اسمان ته تشریف راوړی او دا اواز کوی هره شپه، من یدعونی فاستجب له من یستغفرنی فاغفرله.

څوك دے چه زما نه اوغواړی چه زه ورله ضرورت پوره کړم او څوك دے چه زمانه بخنه اوغواړی چه زه ورته بښنه اوکړم.

شیخ غلام حبیب صاحب به ویل

په پښتو کښې داسې مقصد دے څوك دے زما دشمن چه زه ورسره جوړه اوکړم مونږه دغه صلح ته تيار نه يو.
اے مسلمانانو راځئ چه د الله سره صلح اوکړو او الله خوشحاله کړو، ټول مصيبتونه به زمونږ ختم شي.

## (په دعا سره مصيبت او مرض ختميدل)

وعن ابي الدرداء ، قال قال رسول الله ﷺ ان الله انزل الداء وجعل لكل داء دواء فتداوو بحلال ولا تداووا بحرام (رواه ابو داود)

ترجمه: د حضرت ابو درداء رضي الله عنه نه روايت دے فرمائې چه نبي ﷺ او فرمائيل يقينن الله مرض او دواء دواړه راليږلى او دهر مرض دپاره يې دواء راليږلى نو دوايې کوئ په حلالو او په حرام څيزونو دوايې مه کوئ. ددې دوايانو نه ده ټولو نه زياته مفيده دوائى دعا ده چه د مصيبتنو او مرضونو دشمنه ده ، چه کله مصائيب راځى نو دايې دفعه کوى او چه کله راشى نو دعا اوکړئ دا به يې دفعه هم کړى او علاج به پرى هم وشي ، نو ددې وجه نه دعا د مومن اسلحه ده ، دحضرت على رضي الله عنه نه روايت دے چه نبى ﷺ فرمايلى چه دعا د مومن دپاره اسلحه ده او ددين ستن ده او دا سمان او د زمکې رنړا ده.

## (بل علاج قران دے)

دقران شریف تلاوت په اعلیٰ درجه ده عبادت سره سره لکه څرنګه چه د روحانی مرضونو د شفاء سبب دے نو دغه رنګي دجسمانی بیماریانو د حفاظت هم سبب دے الله رب العزت فرمائي وننزل من القران ماهو شفاء ورحمة للمومنين. (بني اسرائیل)

ترجمه: او مونږه رالیږو د قران نه هغه چه شفاء او رحمت دے دپاره دمومنانو او بل ځائی هم فرمائی: یاایها الناس قد جائتکم موعظة من ربکم وشفاء لما فی الصدور.

ترجمه: اے خلقو یقیناً راغلي تاسو ته نصیحت د طرفه د رب ستاسو نه او شفاء د هغو مرضونو چي په سینو ستاسو کښې دی علامه ابن قیم ؒ فرمائی چه قران د ټولو د زړونو او د بدن د بیماریانو شفاء ده لیکن هر یو دشفاء حاصلونکے نه دے. او نه هر یو ته توفیق میلاوېږی ځکه دا عظیم کلام دے ددي د فائدي حاصلولو ډیر غټ شرائط دی که چرته یو بیمار په ښه طریقه سره علاج اوکړی او پوره د زړه په صدق سره او ایمان سره د خپلي بیمارئ دپاره استعمال کی نو ټولی بیماریانی به ئي ختمي شی.

## (په ذکر د الله کښې صحت)

ده جسماني اوروحاني صحت دپاره ذکر د الله ضروري دے.

حديث کښې راځی عن ابي موسیؓ قال: قال رسول الله ﷺ مثل الذی يذکر ربه والذي لا يذکر ربه مثل الحي والميت .(صحيح بخاری،رقم)

ترجمه: حضرت ابو موسیؓ نه روايت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی مثال د هغه کس چه الله يادوی او هغه کس چه الله نه يادوی پشان د مړه او ژوندی دے . صحت په ژوند باندې موقوف دے کله چه ژوند نوی نو صحت به د کوم طرفه نه راشی ځکه چه ذکر د الله دجسمانی او روحانی صحت محافظ دے.

## (صحت په جهاد کښې)

الله ربالعزت فرمائی:

قاتلوهم يعذبهم الله بايدكم ويخزهم وينصركم عليهم ويشف صدور قوم مومنين ويذهب غيظ قلوبهم(التوبه)

ترجمه: جنګ اوکړئ دکافرو سره سزا ورکوی الله ستاسو په لاسونو او الله

دوی ذلیل کوی او الله امداد کوی ستاسو په خلاف دکافرو او شفا ورکوی سینو د مومینانو ته او ختموی غصه دزړونو د دوی ، د جهاد او غزاګانو ډیر خصوصیات دی چه په صحت کښې اضافه راولی او غم او خفګان ختموی تر اوسه دچانه مونږه نه دی اوریدلی چه فلانی په جهاد کښې پدی مرض وفات شو.ددنیا نه تګ به ده دوئ په شهادت سره وو اللهمارزقنا الشهادة.

## (صحت په لباس کښې)

سپینی جامےاغوستل د صحت دپاره زیات قوت واله دی او الله ته سپین لباس محبوب دے. امام شافعیؒ فرما ئی چه څلور اشیاء جسم ته قوت ورکوی، غوخه عطر ، زیات غسل کول دجنابت نه علاوه اوسپینه کپړه اغوستل داخبره د تجربې نه ثابته ده.

عن ابن عباس رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ البسوا من ثيابكم البياض ، فانها من خير ثيابكم وكفنوا فيها مو تا كم ، وان من خير ا كحالكم الا ثمد، يجلو البصر وينبت الشعر (مسند احمد)

ترجمه: حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمايي چه سپینی کپړي اغوندئ ځکه چه دا ستاسو په لباسونو کښې بهترین لباس دے او کفن ورکوئی په دی کښې خپلو مړو ته او بهترین په رنجو ستاسو کښې اثمد دي چه نظر تیزه وی بانړه غټوی.

نن صبا مسلمانان د نبی ﷺ دسنت نه نا خبره دی وجه هم دغه ده چه ډیر خلق په ماشوم والی کښې بوډا ګان شی نو مونږ لره پکار دی چه سترګي تورو و سپینی کپړے اغوندو پخپله هم او ماشومانو لره هم.

## (صحت په خوارك كښ)

الله رب العزت پاك ارشاد فرمائی. كلو واشرابو ولا تسرفوا. (العمران)

ترجمه: خورئی او څکوئی او زیاتے مه کوئ.

حافظ ابن قیمؒ فرمائی چه په نیم ایت کښې ده ټول علم طب خلاصه ده.

حدیث کښې راځی ،ماملاء ادمی وعاءً شرا من بطن بحسب ابن ادم اكلات يقمن صلبه ، فان كان لا محالة فثلث طعام وثلث شراب وثلث لنفسه (رواالترمذی)

ترجمه: نه دے ډك كړے انسان لوښی ډير نا كاره د خيټې نه ده بنی آدم دپاره څونو نړئ كافی دی چه هغه پری خپله ملا ودروي كه چرته خامخا بغير ددي نه ګزاره نه كيږي نو يو حصه دي ددي خوارك كښې او دويمه حصه دي دسكاك دپاره كښې او دريمه حصه دي دساه اغستو دپاره كښ. نبیﷺ به په ورځ كښې صرف يو ځل خوارك كولو صحابه كرامؓ به صرف دوه وخته خوارك كولو نن صباه زمونږه دمرضونو اصلی وجه ده ډير خوراك ده چه په كوم وخت راته څه ميلاويږی نو اسره پري نه كوو عزتمندو مونږه لره ډير احتياط په خوراك كښې پكار دے.

## (دزيتون تيل ده صحت دپاره)

د نبی ﷺ ارشاد مبارك دے: كلوا الزيت والدهنو ابه فانه من شجرة مباركةٍ

(رواه الترمذی وابو داود)

د زيتون تيل خورئ او غوړول پري هم كوئ ځكه دا د بر كتي ونی تيل دی. الله رب العزت هر څيز دا نسان د فائدې دپاره پيدا كړے خو انسان ئی د خپل ځان دپاره پيدا كړے نو مونږه لره دهغه احكام منل پكار دی هر مشكل به ختم شی. ان شاء الله.

## (كلونجی)

كلونجی دهر مرض دپاره مفيده ده او بل دفاعی نظام لره حركت وركوی حديث د بخاری دي مشكوٰة نقل كړے دے.وعن ابی هريرهؓ انه سمع رسول الله ﷺ يقول ، فی الحبة السودا شفاء من كل داء الا السّام : قال ابن شهاب السام الموت والحبة السوداء الشو نيز متفق عليه

ترجمه: د ابو هريرهؓ نه روايت دے فرمائی چه ماد نبی ﷺ نه اوريدلی

دی چه په کلونجی کښې شفاء ده دټولو مرضونو دمرګ نه علاوه.

دادوائی دحاکمانو سره میلاویږی خو کتل پکار دی چه اصل وی چینو واله نه وی.

## (صحت په شهد کښې)

دنیا دارالاسباب ده بغیر د اسبابو نه په څه کار نه کیږی الا ما شاء الله په دي سببونو کښې یو سبب ده ګبین دے وعن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال جاء رجل الی النبی ﷺ فقال اخی استطلق بطنه فقال رسول الله ﷺ اسقیه عسلا .فسقاه ثم جاء فقال سقیته فلم یزد الا استطلاقا . فقال له ثلاث مرات ثم جاء الرابعة فقال:اسقیه عسلا .فقال :لقد سقیته ،فلم یزد الا استطلاقا فقال رسول الله ﷺ: صدق الله وکذب بطن اخیك : فسقاه فبرء .(متفق علیه)

دابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه نبی ﷺ لره یو سړي راغلي نو وی وئیل زما رور دے خیټه یې خرابه ده نو نبی ﷺ ورته او وئیل ګبین پري وڅکه کله چه پري هغه وسکو نو بیا راغلےوئی وئیل ما پري ګبین وسکو خو دهغه خیټه لا نه خرابه کړه نبی ﷺ ورته دری ځل اوویل بیا په څلورم ځل راغي نبی ﷺ ورته او وئیل ګبین پري وسکه نو هغه بیا او ویل په تحقیق سره ما پری وسکو د هغه خیټه ښه خرابه شوه نو نبی ﷺ او فرمایل الله رشتیا ویلی دی .

(فيـــــــه شفاءٌ لـــــلـــــنـــــاس ٦٩)

خو ستا درور خيته دروغجنه ده بيا ئي پرى وسكولو نو الله روغ كړو.

قول ابن مالك نقل كړے نبى ﷺ ورته حكم او كړو هغه ته دا پته وه چه ده جمعه والي سبب دادے چه د هغه زياتى بلغم او فاسده ماده خارجه شى. او بل د حديث نه داهم معلوميږى چه علاج كم از كم دري ځله پكار دے . او په حديث دا بن مسعود كښې رازى (عليكم باالشفائين العسل والقران) په تاسو دوه شفاګانى لازم دى ( يعنى په دواي علاج كوئى)چه ګبين او قران دى او ده علهؓنه نقل دى كله چه ستاسو نه يو كس د مرض شكايت كوى نو ده ښځى نه دى مهر طلب كړى او په هغه دي ګبين واخلى بيا دي دباران اوبه رواخلى او دواړه دي جمعه كړى داډيره مباركه شفا ده نبى ﷺته دا خبره د وحي په ذريعه خو دلى شوى ده كو يو مريض ګبين اوسكى نو دهغه خيتى ته به ارام ميلا وشى او دست به يي بند شى او د الله رب العزت كلام هيڅ كله نشى دروغ كيدلے.

## (سنا بهترينه دواي ده)

(مظاهر حق شرح مشكوٰة جلد)

دجلا بو دپاره بهترين علاج سنا ده او ولى به نوى ځكه د الله خوږ نبى ﷺويلى.وعن اسما بنت عميسؓ ان النبى ﷺسالها بما تستميشن قالت بشبرم قال حارٌ حارٌ قالت ثم استميت بالسنا فقال النبىﷺلو ان شيئًا

**كان فيه الشفاء من الموت لكان فى السنا.**

(رواه ترمذی وابن ماجه وقال ترمذی هذا حسن غريب)

**ترجمه:** داسما بنت عميس رضی الله عنها نه روايت دے چه نبی ﷺ د هغي نه تپوس او کړو چه تاسو په کوم څيز سره جلاب(جاړکوئ) هغےاو وئيل شبرم سره شبرم د يو ګيا ه نوم دے چه دستونه راولي څنی وايي چه د ګياه دانی زړی مراد دی چه دنسکانوپه مقدار دی . نو نبی ﷺاو وئيل دا خو ډير زيات ګرم دي نو هغےاوويل چه بيا مونګه جلاب په سنا سره کوو، نو نبیﷺاو فرمايل که چرته داسی څيز وے چه هغه کښې دمرګ نه شفاء ده نو دا به په سنا کښې وے.

دحديث په اخرنو الفاظ کښې دسنا فضيلت اوغوروالې معلوم شو دا واقعی ده چه سنا او خاص کر سنا مکی ( ډير بهتره ده)دا ډيره عجيبه او نا اشنا دوائي ده ددي فائدےډيری مشهوری دی اکثر مريضانو له سبب د شفا ګرځی اصل خاصيت ددي دا دے چه په دی کښې د نقصان ويره نشته .درجه حرارت يو ده ، دصفرا او سودا او بلغم د ختمولو دپاره او زړه ته طاقت ورکوی لوی خصوصيت پکې دادي چه د وسوسی او سودائی توب دپاره انتهائی مفيده ده.

## (علاج په ورزش سره)

دنبی ﷺصحت زمونږه دپاره معيار دے . نبیﷺ د زندګئ په

اخرنو كلونو كښې دتبوك.. سل كلو ميټره سفر په سخته ګرمۍ كښې پيدل او په اوښانو كړي وو نبیﷺد خپلے زمانے غټ پهلوان راغورزولے وو د صحت حاصلولو دپاره ورزش په سړی اوښځه دواړو ضروری دے . دصحت حاصلولو دپارهٔ اسباب استعمالول په احاديث كښې ترغيب دے.

()عن ابی هريرهؓ قال: قال رسول اللهﷺ المومن القوی خير واحبّ الیٰ الله من المومن الضعيف وفی كل خير ، احرص علیٰ ما ينفعك واستعن باالله ولا تعجز (رواه مسلم)

ترجمه: د حضرت ابو هريرهؓ نه روايت دے .هغه فرمايي چه رسول اللهﷺ ارشاد فرمايلی طاقتور مومن ډير زيات بهتر او محبوب دے الله رب العزت ته د كمزوری مومن نه اوپه هر كار دنيكئ كښې حرص كوه په هغه څه كښې چه تاته فائده دررسوی او د الله نه مدد غواړه او ځان مه كمزورے كوه.

()عن عبد الله بن عمرؓ ان رسول اللهﷺ قال: فان لجسدك عليك حقا (رواه مسلم رقم٠)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ ارشاد فرمايلے چه بےشك په تا باندے ستا دبدن حق دے.(ددي خيال ساته)

()عن علیؓ بن ركانهعن ابی ركانه صارع النبیﷺ فصرعه النبیﷺ

(اخراجه ابو داود فی سننه٠)

ترجمه: حضرت علی بن رکانه د خپل پلار حضرت رکانهﷺ نه روایت نقل کوی چه یوه ورځ نبی ﷺ د حضرت رکانهﷺ سره کوشتی (پرزول) کول نبی ﷺ په کوشتئ کښې غالب شو.

دد ے احادیثو نه داخبره معلومه شوه چه نبی ﷺبذات خود ورزش کړے دے (ډا کټران وائی چه کم از کم په ورځ کښې یوه گهنټه ورزش پکار دے.

## (علاج په حرامو سره)

وعن ابي درآء قال : قال رسول الله ﷺان الله انزل الدآء والدوآء وجعل لكل داءدواء فتداووا بحلال ولا تداووا بحرام .(رواه ابو داود)

ترجمه: حضرت ابو درداءﷺفرمائی چه نبی ﷺفرمائیلی چه الله رب العزت بیماری هم رالیږلي او دوائي هم رالیږلي او دهر مرض دپاره يي دوائي گرزولي نو تاسو دوائي کوئي په حلالو او دوائي مه کوئی په حرامو.(ابو داود)

دحرام څیز نه مراد خنزیر او هغه څیز چه هغه ته حرام په شریعت کښې ویلي شوی وی په شرابو باندې علاج کول یا دغه رنګی بل څیز شو چه دهغه حرمت مطلقا وی په هغه شفا نه حاصلیږی لکه چه د حضرت ابن مسعودﷺنه روایت دے چه الله رب العزت ستاسو شفا په هغه څیزنو کښې نده ایخو دی چه کوم

ستاسو دپاره حرام شوي.

څنې خلق شراب د دوائې دپاره استعمالوی لیکن دانه ده صحیح یو صحابي طارق جعفی رضي الله عنه ده نبی صلى الله عليه وسلم نه د شراب د جوړولو باره کښې تپوس وکړو نو نبی صلى الله عليه وسلم دهغه نه منعه کړلو ، بیا هغه اوویل ما شراب د دوائي دپاره استعمالول نو نبی علیه السلام اوفرمائیل

من تداویٰ بالخمر فلا شفاء الله یعنی چا چه په شرابو علاج او کړو نو الله به ورله شفاء ورنکړی.

دبعض فقهي نه ددے اجازت معلومیږی کو چرته دمرض په باره کښې قابل طبیبان اتفاق اوکړی چه ددي علاج بغیر د شرابو نه په بل څه نه کیږی نو که شراب ددي مرض دپاره بطوري علاج استعمال شی نو جائز به شی لیکن دا خبره هم نا ممکنه ده ځکه اول خو قابل اعتماد ډاکټران موندل او بیا ددوئی اتفاق په دي خبره راتلل چه ده علاج دپاره صرف شراب داخبره څه اسانه نه ده نو مسلمانانو لره پکار دی چه د حرام اشیا نه ځان اوساتی که ته دا وایي چه زما کار پری کیږی نو زما مهربانه ستا کار په غلا هم کیږی په ډا که هم بیا مزدوری او حلال مال ولي ګټی دغه رنګی په ډیرو.

حرامو څیزنو کیږی، خو الله امتحان کوی په مونږه او تاسو باندی چه ددی څیز نو نه ځان وساتو. جزاکم الله.

(په صدق سره صحت)

اصل حقيقت دادے چه مونږه د خپل دين نه نا خبره يو ، نن صبا پريشاني ده او هر انسان پريشان ښكاري اصل وجه په خپل دين عمل نه كول دي كه مونږه په خپل دين عمل شروع كړو نو ټول مشكلات به ختم شي نن هر انسان ډاكټرانو ستړے كړےكه په دين عمل وے داسي به نه وے اول علاج صدقه ده دويم نمبر دعا كول دي دريم دم كول دي او څلورم نمبر كښې ډاكټري علاج دے او مونږه اول ډاكټرانو ته ځو چه كله څه ونشي نو روسته دا نور علاجونه شروع كړو اے مسلمانانو راشئ ده خپل دين نه مه غافله كيږئ.

حديث كښې راځي عن عبد الله رضي الله عنه قال :قال رسول الله ﷺ( داووا مرضاكم بالصدقة) (السنن الكبر للبيهقي جز)

ترجمه: د حضرت عبد الله رضي الله عنه نه روايت دے فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي چه علاج كوئي خپلو بيمارانو لره په صدقې سره (الحديث)

بل حديث كښې راځي الصدقة تطفئ غضب الرب په صدقي سره دالله غُصه مړه كيږي او ختميږي مونږه رب دخپلو گناه هنو په وجه غصه كړے.

راځئ چه الله رب العزت په صدقو وركولو سره خوشحاله او راضي كړو په حياة الحيوان كښې يو واقعه ذكر ده دحضرت سالم ابي الجعد رضي الله عنه روايت دے هغه فرمائي چه دحضرت صالح عليه السلام په قوم كښې يو سړے وو چه خلقو ته به ېي تكليف رسولو خلقو صالح عليه السلام ته شكايت اوكړو او خواست ېي اوكړو چه تاسو

دهغه دپاره بد دعائي اوکړئ حضرت صالح علیه السلام دعاء وکړه سړے دے اراده سره اووتلو هغه سره دوه روټۍ وي يوه ئې اوخوړله او دويمه ئي صدقه کړله غرض هغه لاړو او لرګو سره صحيح سلامت راغلے هغه ته هيڅ ونه شو ، حضرت صالح عليه السلام ته تعجب وشو نو هغه سړے ئي راوغښتلو او تپوس ئي ترينه اوکړو چه نن تا کوم کار کړے دے؟هغه اوويل نن زه دلرګو دپاره وتلي ومه ما سره دوه روټۍ وې يوه مې صدقه کړه او دويمه مې په خپله اوخوړله حضرت صالح عليه السلام او فرمايل دلرګو داګيډے پرانيزئ خلقو هغه پرانستلو نو د هغه نه يو تو مار اسود سالخ ديوے ونی ده تنی په مثل پروت وو او خپل غاښ ئي دلرګي په تنه خخ کړی وو نو صالح عليه السلام اوفرمايل چه ستا دي عمل يعنی د صدقې په وجه الله ددي نه بچ کړي . مطلب مو دادے چه صدقې کوئی.مصيبتونو نه دخلاصيدو دپاره شيخ عبد القادر جيلانی ؒفرمائی چه سحر وخت کښې صدقه ورکول بهتر دی چه څومره د انسان طاقت وی او بهترينه صدقه هغه ده چه په ښی لاس ئي ورکړی او ګس لاس ته پته ونه لګی الله دي مونږ ه لره توفيق را کړی امين .

## (دخلاصی په طور ده صحت بنيادی اصول)

()پنځه وخته په جمعی سره مونځ کول داد جسمانی او روحانی صحت دواړو دپاره د زندګئ ده ټولو نه اهم څيز دے يو طرف ته په مونځ کښې الله طرف ته د ملاقات مشق وی چه هغه ته ( احسان) وائی ددي وجه نه زړه ته قوت او

خوشحالی میلا ویږی ، اوبل طرف ته دا یو قسم ورزش هم دے ځکه چه په دیکی تقریبا هر جوړ حرکت کوی.

()دمسنون دعاګانو د تهجدو اهتمام کول دنبی ﷺ مسنون دعاګانی دامت مسلمه دپاره لویه تحفه ده او کو چرته درته معنٰی هم زده وی او سوچ پکی کوي نو ده الله سره ده تعلق او محبت او خوشحالئ لویه ذریعه ده.

()دصدقی اهتمام کول نبیﷺ فرمايي ده خپلو مریضانو علاج په صدقی سره کوئی.

()په خوراك كښې اسراف نه كول (كلوا واشربوا ولا تسرفوا) الاعراف)

ترجمه: خورئی او ځکئ او زیاتے مه کوئی.

خورئی او سکئی په دی نیم ایت کښې ده علم طب ټوله خلاصه ده . دحدیث مفهوم دے بنیادم دپاره یو څو نوړئ پوره دی چه په هغه باندی خپله ملاسیده کښې ،بهتره خبره داده چه په هفته کښې دی د دوه ورځو نه زیاته غوښه نه خوري. سبزی او میوه باندي دی اکتفاء کوی.او دجوړونو او عرق النساء دپاره خاص طور باندي، غوښه، کیله او د چاول نه پرهیز کول پکار دی.

یو ځل خوراك د یوولسو بجو پوري او دویم ځل د شپی ، ډیر نیکان بندګان په ورځ کښې یو ځل خوراك کوی.

()پیدل یوه ګهنټه ګرځیدل بغیر د وقفی نه د صحت دپاره ډیر فائد مند دی اصل وخت دسحر دے که ددي موقع میلا ونشی نو بل وخت کښې دي وشی.

## (عام اصول چه د کومو مطابق حجامه کولے شی)

عام طور باندی حجامه په هغه ځاینو کولے شی چه په کوم ځائے بیماری وی.

()مثال په طور باندې که چری د انسان په معده تکلیف وی نو د معدے نه بره حجامه پکار ده.

()او که یو بنده ته د ګردو مسائل وی نو د ګردې نه بره په ملا باندے کول پکار دی.

()او که د بنده دجګر مسئله وی نو ده جګر نه بره په ښی طرف سینے باندے کول پکار دی

(۴)که یو کس ته دسر تکلیف وی نو نبی کریم ﷺ دهغه په باره کښې فرمایلی دی.

() ځنی مرضونه دننه په بدن کښې وی نو داو ګو مینځ کښې حجامه کول پکار دی نبی کریم ﷺ په خپله ده اوګو په مینځ کښې حجامه کړې ده.

## (حجامه څوک رته کول پکار دی)

که یو ځل سره مریض ټیك نه شی د دریو ځلو نه تر اوو پوري کول پکار دی او د هر دوو حجامتنو په مینځ کښې دوه هفتےیا یوه میاشت وقفه ضروري ده او دا دطبیب په مشوره کول پکار دی.

## (دښکر علاج د حدیثونو په رنړا کښې)

عن ابن عباس رضی الله عنه عن النبیﷺقال:الشفاء فی ثلاثة فی شرطة محجم او شربة عسل او کیة بنار ، وانهی امتی عن الکی.

(روا بخاری الطب رقم)

وفي روایت جابر رضی الله عنه او لذعته بنار وما احب ان اکتوی.(رواالبخاری)

ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه د نبیﷺنه نقل کوی چه نبیﷺفرمایلی دی چه شفاء په دري څیزونو کښې پته ده.

()دخکر په ذریعه وهل یعنی علاج کول.

()دګبین استعمالول.

()په اور سره داغ لګول خو ما خپل امت دداغ لګولو نه منعه کړے او په روایت د جابر رضی الله عنه کښې دی چه داغ لګول خوښ نه ګنړم.

وعن ابي هریره رضی الله عنه قال :قال رسول الله ﷺان کان فی شی مماتداویتم به خیر

**فالحجامه.**(رواه ابو داود وابن ماجه)

**ترجمه: دحضرت ابو هريره ﷺ دنبیﷺ دا روايت نقل كوی چه نبیﷺ فرمائی چه تاسو په كومو ځیزونو علاج كوئ نو بهترين په هغو كښې ښكر لګول دی.**

**وعن ابى هريرة رضي الله عنه قال: قال اخبرنى ابو القاسم ﷺ ان جبريل اخبره ان الحجم انفع ما تداوى به الناس. وقال رواه الحاكم وقال صحيح على شرطهما**(الترغيب والترهيب.)

**ترجمه: دحضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے هغه وايي چه ماته ابو القاسم ﷺ خبر را كړے چه نبیﷺ ته جبرايل خبر وركړے وو چه حجامه ډير زيات مفيد دے.**

**دهغه څه نه چه خلق په دوائي كوی.**

**وعن مالك بلغه ان رسول ﷺ قال : ان كان دواء يبلغ الداء فاء ن الحجامة تبلغه.**(ذكره فى الوطا هكذا)

**ترجمه: دحضرت مالك نه روايت دے هغه ته دا خبره رسيدلی چه بي شكه نبیﷺ فرمايلی كه چرته داسی دوايي وي چه مرض ته رسيدلے يعنی ختمولے نو بيشكه هغه به حجامه وو چه دي مرض ته به رسيدلے يعنی ختمولےبه يي.** (الترغيب والترهيب)

ترجمه: عبد الرحمٰن فرمايي چه زه د ابو هريره رضي الله عنه خوا ته ورغلم هغه ښکر لګولو نو زما په ليدو باندي هغه ماته او وئيل اے ابو الحکم (دا کنيت دے) ته هم ښکر ولګوه ما اوويل ما چرته ښکر نه دے لګولے ، ابو هريره رضي الله عنه اوويل چه ماته ابو القاسم ﷺ (دا کنيت دنبي ﷺ دے) خبر را کړے چه خلقو له د علاج په طريقو کښې بهترين علاج ښکر لګول دی.

عن انس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ان امثل ما تداويتم به الحجامة والقسط البحری.

ترجمه: دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت دے والی چه نبی کريم ﷺ فرمايي چه د ټولو نه بهترينه دوايي چه تاسو په هغه علاج کوئ هغه ښکر لګول دی (اوپه سمندری جړی بوټی باندي) په دوی علاج کوی (کتاب الحجامة)

وعن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما انه ،عاد المقنع ، ثم قال: لا ابرح حتی تحتجم ، فانی سمعت رسول الله ﷺ ان فيه شفاء.

(روا البخاری)

ترجمه: حضرت جابر رضي الله عنه دحضرت مقنع رضي الله عنه بيمار پورسئ ته لاړو بيا يي ورته اوفرمائيل چه زه د هغه پوري يمه چه تر څو پوري ته حجامة ولګوی ځکه چه ما دنبی ﷺ نه اوريدلی دی چه په دي کښې شفاء ده.

مونږه لره هم پکار دی چه ددي علاج نه علاوه بل هيڅ علاج ونکړو کو مونږه دا علاج شروع کړو نو مونږه له به دشهيدانو اجر وی ايا مونږه دا نه

غواړو چه الله شفاء هم را کړی او ثواب هم خامخا هر انسان دا غواړی الله دي مونږه د نبیﷺ دسنتو تابعدار جوړ کړی. امین.

## (دفرشتو حکم په ښکر لګولو باندی)

وعن ابن مسعودرضي الله عنه قال: حدث رسول الله ﷺ عن ليلة اسرى به انه لم يمر على ملاء من الملائكة الا امروه: ان مر امتك بالحجامة.

(رواه الترمذی وقال حسن غريب (رقم ۰) مشكوٰة كتاب الحجامة)

ترجمه: دحضرت عبد الله بن مسعود نه نقل دي چه نبیﷺ دمعراج د شپی واقعه ذکر کوله چه په دغه شپه باندي د نبیﷺ تیریدل په یو ټولګی او جماعت دفرشتو کیدلو نو حکم به ي ورته کولو چه خپل امت ته په ښکر لګولو حکم وکه. په روایت دحاکم کښې دي علیك یا محمد با الحجامةترجمه: اے نبیﷺ په ځان باندي ښکر لګول لازم کړه.

عن مالك بن صعصعةرضي الله عنه قال: قال رسول اللهﷺ ما مررت ليلة اسرىرضي الله عنه بي على ملاء من الملائكة الا امرونى بالحجامه.

(رواه الطبراني في الاوسط والكبيرو قال الهيثمى: رجال صحيح)

ترجمه: حضرت مالك بن صعصعهرضي الله عنه فرمائی چه نبیﷺ فرمائی چه د معراج په شپه به چه په کوم جماعت د فرشتو تیریدمه نو ماته به ي په ښکر لګولو حکم کولو.

ددي حدیثونو مبارکو نه معلومه شوه چه دالله معصوم مخلوق چه فرشتی دی

هغوئ هم په دي امت مهربانه دی ځکه چه بار بار ددي حکم کوی څه عاجز وايم چه حجامه په طور يوه تحفه او ډالئ دی امت ته ورکړی شوی ده هر مسلمان له پکار دی چه خامخا يو ځل دی په نيت ده سنت ولګوی.

وعن انس رضي الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : اذا اشتدّا الحر فاستعينو بالحجامة لا يتبيغ الدم باحدکم فيقتله.

(رواه الحاکم وقال صحيح الاسنادبحواله الترغيب والترهيب)

ترجمه: د حضرت انس رضي الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم نه دا ارشاد نقل کړےدے کله چه ګرمی زياته شی نو په ښکر لګولو امداد حاصل کړئ جوش نه کوي وينه. ديو کس ستاسو نه چه مړ ييي کړی.

## (صفت دښکر لګون کښې په ژبه د نبی صلی الله علیه وسلم)

اے مسلمانانو رونو مونږه لره پکاره دی چه په هر کور کښې کم از کم يو کس خامخا حجامة ذده کړی او ددی په ښودلو کښې شومتوب او بخل ونکړو نن صبا يهود په خپل علاج کښې ځومره مخ په وړاندی روان دی او دا دواياني داسي دوايانيدی چه يو مرض جوړ کړی اولس نور پيدا کښې ، دا دهغوئ په کمپنينو کښې جوړيږی اوپه ډاکټرانو باندی نمبر نه وی يعنی مريضان ډير وی او د طب نبوی مريضان نه وی. طب نبوی ځکه ختم شو چه په دی کښې بخل اوشو که چری دا پيغمبری علاج مشهور کړو نو کروړونو بيماران به په لکونو شی او فائده به عامه شی او په خودلود دی کښې اجر او ثواب دے او

نبیﷺ ي صفت کړے دے.

عن ابن عباسؓ فرماي چه نبی کریمﷺفرمائی نعم العبد الحجام ، يذهب بالدم ويخف الصلب ويجلو عن البصر ، وقال : ان رسول الله ﷺحين عرج به، ما مرّ على ملء من الملا ئكة الا قالوا: عليك بالحجامة .

(رواه الترمذی وقال حسن غيرب رقم ٠)الترغيب والترهيب)

ترجمه: حضرت ابن عباسؓ فرمائی چه نبی کریمﷺارشاد فرمایلی چه څه ښه بنده دے ښکر لګونکې چه ګنده او فاسده وینه اوباسی او ملا ورسره سپکه شي او نظر ورسره تیز شي او ابن عباسؓ فرماي چه د معراج په شپه چه به کله نبیﷺ د فریشتو په جماعت تیریدلو تو فریشتو به ورته ویل چه په ځان حجامه لازم کړه.

## (حجامة په بلیڼ یعنی په پتری پکار ده)

کله چه یو بنده ښکر لګوی نو پکار ده چه نوے بلیڼ استعمال کړی ځکه په حدیث کښې ذکر دي.

عن سمرة بن جندبؓ قال دخل اعرابي من بنی فزارة على رسولﷺواذا حجام لحجمه له من قرون ، فشرطه بشفرة، فقال:ما هذا يا رسول الله ﷺ؟ قال هذا الحجم ، وهو خير ما تداوى به الناس ،

(رواه النسايئ واحمد ،رقم ٠٠ وقال محققه :اسناده صحيح)

ترجمه: حضرت سمرة بن جندبؓفرمائی چه دنبیﷺ خواته د بنی فزاره

قبيلې يو بانډه چې راغلې نو په دغه وخت کښې يو حجام نبیﷺ لره ښکر لګولو او حجام په بلېږ باندې هغه ځائې اووهلو نو بانډه چي په تعجب سره تپوس وکړو اے د الله رسول ﷺدا څه شے دے؟ نبیﷺ ورته اووئيل دا ښکر لګول دی او دا بهترين دے په هغه علاجونو کښې چه کوم خلق غوره کوی.

په حديث کښې ذکر د بلېږ وشو ځکه دا زخم هم کم راولي او ددی زخم په ورځ دوه کښې ښه کيږی که ددينه علاوه په چاقو او يا چوړکئ وشی هم جائز دی.

## (دنورو دوايانو ضرورت نشته)

زما د کمزورى پوهې مطابق که په يقين سره حجامة وشی نو انشاء الله که نور هيڅ علاج ونکړی نو دا ورله بس او پوره دے ولي به نه وی ځکه حديث کښې راځی.

عن ابي كبشة الانماری رضي الله عنه انه حدثه: النبیﷺ كان يحتجم على هامته وبين كتفيه ، ويقول ، من اهراق من هٰذا الدماء فلا يضره ان لا يتداوٰى بشئي لشيء.

(رواه ابن ماجه، واللفظ له رقم ، وابو داود كلها في الطب وقال محقق ، ابن ماجه اسناده حسن)

ترجمه: ابو كبشة انماری رضي الله عنه فرمايي چه نبیﷺ په سر مبارك او دواړو اوګو په مينځ کښې ښکر ولګولو اووی فرمائيل چا چه خپله ګنده وينه تويه کړه که په بل هيڅ شی باندی علاج اونکړی دی انسان ته به ضرر نه رسئ.نو ددی حديث نه صفا معلومه شوه چه حجامه يو بهترين علاج دے.

## (په کومو ځاينو لګول پکاردی)

الله رب العزت د هر مرض دپاره دوائی رالېږلی ده.دغه رنګی حجامه یعنی ښکر لګول هم یو بهترین علاج دے په القلم اخبار کښې لیکلی دی که دوایا نو تنګ کړے ئي نو ښکر ولګوه مونږه هغه ځایونه ذکر کوو چه کوم په حدیثونو کښې راغلي نو دهر مرض دپاره مونږه د تصویرونو په مدد سره ځایونه ښایو ده هغه ځایونو نه چه نبیﷺ په خپله ښکر لګولے لکه کوپړئ د کوپړئ نه خکته طرف، داوګو مینځ او دسټ دواړه طرف ته ، او ددواړه ورونان ،او ددواړو خپو بر طرف.

په حدیث د ابو کبشه انماری رضی الله عنه کښې دسر او داوګو د مینځ ذکر اوشو. په حدیث دانس رضی الله عنه کښې راځی. عن انس رضی الله عنه قال: کان رسول اللهﷺیحتجم فی الا خدعین والکاهل.(رواه ابو داود مشکوٰة)

ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول اللهﷺبه ښکر لګولو دسټ په دواړو طرفونو او داوګو په مینځ کښې.

وعن جابر ان النبیﷺاحتجم علیٰ ورکه من وثاءٍ کان به (رواه ابو داود)

ترجمه: حضرت جابر رضی الله عنه وايي بیشکه نبیﷺلګولے وو په ورون باندی د درد د وجنه چه په هغه باندی وو.

وعن سلمٰی خادمة النبیﷺقالت ما کان احد یشتکی الی رسول اللهﷺوجعاً فی رئسه الا قال احتجم ولا وجعا فی رجله الا قال احضبهما.(رواه ابو داود)

ترجمه: حضرت سلمیٰ رضی الله عنها خادمه د نبیﷺ نه روایت دے فرمائیلی چه نبیﷺ ته کله چا د سر د درد شکایت نه دے کړے مګر نبیﷺ به ورته ویل ښکر ولګوه. او چا د خپو د درد شکایت نه دے کړے مګر نبیﷺ به ورته وئیل نکریزی ولګوه.

## (په حجامه باندی د جادو علاج)

قال ابن القيم فی ذاد المعاد: (ج-۴): وقد ذكر ابو عبيد فی كتاب، غريب الحديث ، له باءسناده عن عبد الرحمٰن بن ابی ليلیٰ ان النبیﷺ احتجم علیٰ راسه بقرن حين :طب :ای سحر.

ترجمه: دحضرت عبد الرحمٰن ابی لیلیٰ نه روایت دے چه کله په نبیﷺ باندي جادو شوے وو نو نبیﷺ په سر مبارك ښكر لګولے وو. (ابن قیم په خپل کتاب .(الطب النبوی ﷺ)صفحه ):لیکی

وقد اشكل علی هذا من قل علمه ، وقال : ماللحجامة والسحر ، وما الرابطة بين هذا الداء وهذا الدواء.

ولو وجدهذا القايل بقراط او ابن سينا او غير هما قد نص هذا العلاج، لتلقاه باالقبول والتسليم ، وقال : قد نص عليه من لا يشك فی معرفته وفضله.

ترجمه: يعنى بعض كم علمو خلقو په حديث باندي اشكال كړے چه چرته حجامه او چرته جادو او څه تعلق دےددی مرض او ددی دوائي كه چرته موندلی وے دي اعتراض كونكی بقراط او ابن سينا او ددينه علاوه نور حاكمان چه په حجامه سره دجادو علاج كيدلےشی نو دے اعتراض كونكی به دا خبره منلې وے. ابن قيمؒ وايي حالانكی د حجامه په ذريعه علاج هغه ذات كړې چه دهغو په پيژاندلو او غوره والی كښې څه شك نشته د ښكر په ذريعه د جادو علاج كول اعتراض كوونكی لره هيڅ كنجائيش نشته چه اعتراض وكړی.

نو دا خبره واضحه شوه چه دسحر علاج ده ښكر په سبب كولے شی.

## (دزنانو دپاره ښكر لگول څنكه دے؟)

الله رب العزت دنيا دارالاسباب پيدا كړی ده . ديو انسان احتياج بل انسان ته راځی كه سړي دے او كه زنانه دا متل دے چه ديو لاسه پړق نه خيژی لكه څه رنگې چه سړي ښكر لگوی نو دغه رنگی زنانه ښكر بل لره هم لگولے شی او بل ته هم ويلې شی چه ما لره ښكر ولگوه دا جائز دی د ضرورت مطابق .سړي ي نا محرم لره هم لگولے شی او زنانه يي پردی سړی لره هم لگولے شی په نن صبا دور كښې ترينه ځان ساتل پكار دی. هر سړي لره پكار دی چه څه نه څه حجامةازده كړی.

عن جابر رضي الله عنه:ان ام سلمة رضي الله عنها استاذنت رسول صلى الله عليه وسلم فى حجامة فامر النبى صلى الله عليه وسلم ابا طيبه ان يحتجمها، قال حسبت انه قال.الخ

ترجمه: دحضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دي چه ام المومنين حضرت ام سلمه رضى الله عنها دنبى صلى الله عليه وسلم نه دحجامه په باره کښې د تپوس اجازت اوغوښتو نو نبى صلى الله عليه وسلم ابو طيبه ته (غلام وو) حکم او کړو چه حضرت ام سلمه رضى الله عنها لره ښکر ولګوى.

راوى وايي چه زما دا خيال دے چه ابو طيبه دام سلمه رضى الله عنها رضاعورور دے يا نا بالغ وو. دضرورت لاندې نا محرم سړو لره علاج معالجه کول او ښځو لره علاج کول جائز دى. دامام بخارىؒ ددې لاندې روايت نه معلوميږى.

عن الربيع بنت معوذ ابن عفراءرضى الله عنها قالت: کنا بغزوة مع رسول الله صلى الله عليه وسلم نسقى القوم ونخدمهم ونرد القتلى والجرحي الى المدينة.

ترجمه: حضرت ربيع بنت معوذابن عفراءرضى الله عنها وايي مونږه يعني زنانه په يوه غزا کښې د نبى صلى الله عليه وسلم سره وو صحابه کرامو رضى الله عنهم اجمعين لره به مو اوبه ورکولى او دهغوئ خدمت به مو کولو او شهيدان او زخميان به مو مدينے ته واپس کول.

حافظ ابن حجر رضي الله عنه په فتح البارى، جلد صفحه () کښې ليکلى چه په مذکوره حديث کښې (ونداوي الجرحي ونرد القتلیٰ) يعنى شهيدان او زخميان به مونګه واپس کول) ددې حديث نه دزنانوو علاج کول سړو لره ثابت شو، او دسړو علاج کول زنانوو لره په دې حديث باندې قياس کيږى، ليکن دا خبره

يادة اوساتئ چه دضرورت په وخت نا محرمه سړي يا زنانه لره علاج کول جائز دي، دغه رنګی د ضرورت په وخت کښې نامحرم سړي يا نامحرم زنانه ليدل او لاس لګول هم جائز دی خو نن صبا ددينه ځومره چه وس کيږی ځان ساتل پکاردی ځکه دفتنو دور دے. الله تعالیٰ دی دمسلمانانو دايمان حفاظت اوکړی، امين ثم امين.

## (دښکر لګولو تاريخ)

الله رب العزت د مخلوق په حالت پوهه دے اوغواړی چه ماته خپل بنده کامياب راشي او په دنيا کښې هم دانسان دپاره کاميابی غواړی او اسباب د صحت يي ورته تيار کړی په دغه اسبابو کښې يو ښکر لګول هم دی ددغه تاريخ معلومول پکار دی چه په کومه ورځ پکار دے او په کومه نه دے پکار.

داسلامی مياشتی په ، ، ، تاريخ لګول پکار دی ، اصل وجه په دي کښې داده چه د وينی ګرم والي په اول کښې کم وی، او په اخر کښې تيز وي او په دي ورځو کښې برابر وی، نو په دي تاريخ لګول پکاردی.

عن ابن عباس رضی الله عنهما ، انه قال ان خير ماتحتجمون فيه يوم سبع عشرة ويوم تسع عشرة ويوم احدیٰ وعشرين .(صحيح رواه الترمذي صحيح جامع رقم ٠)

ترجمه: حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل بهترينې ورځې چه تاسو پکښې ښکر لګوئی هغه د اسلامی میاشتې ، اولسمه ، نولسمه ، او یو یشتمه ورځ ده.

وعن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبی ﷺ قال من احتجم لسبع عشرة ، من الشهر كان له شفاء من كل داء .(الترغيب والترهيب : ص: ) (مشكوٰة)

ترجمه: حضرت ابو هريره رضي الله عنه د نبی ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه چا د میاشتې په اولسمه ورځ ښکر ولګولو نو دا به د هر مرض شفاء وی.

او په روايت د ابو داود کښې د دينه اوږد ذکر دی.

من احتجم لسبع عشره وتسع عشرة واحدى وعشرين كال شفاء من كل داء (الترغيب والترهيب مشكوٰة)

ترجمه: چا چه په اولسمه، نورلسمه، يايو يشتمه ورځ ښکر ولګولو نو دا به د هر مرض دپاره شفاء شی.

او په روايت د رزين کښې داسي دی.

اذا وافق يوم سبع عشرة يوم الثلثاء كان دواء السنة لمن احتجم فيه.

ترجمه: كله چه برابر شی اولسمه ورځ دسه شنبی دورځی سره نو دا به د يو كال دپاره دوايي شی هغه چا لره چه ښکر ئې لګولے وی په دغه ورځ کښې.

## (هفته کښې په کومه ورځ ښکر لګول پکار دی)

دهر يو علاج دپاره خپل اصول وی چه کله په هغه عمل وشی نو هغه مفيد وی دغه رنګی د حجامه دپاره هم دی په هفته کښې دګل په ورځ دزيارت په ورځ پکار دی او د جمعې خيالی اتوار سه شنبه چهار شنبه په ورځ ندی کول پکار.

وعن نافع رضی الله ان ابن عمر رضی اللهعنهما قال له:يا نافع تبيغ بي الدم فالتمس لی حجاما واجعله رفيقا ان استطعت ، ولا تجعله شيخا،كبيرا، ولا صبيا صغيرا فاني سمعت رسول اللهﷺ:يقول : الحجامة على الريق.

امثل وفيها شفاءٌ وبركة ، وتزيد فی العقل وفی الحفظ واحتجمواعلى بركة الله يوم الخمس واجتنبو بالحجامة يوم الا ربعاء والجمعة والسبت والا حد تحريا واحتجمو يوم الا ثنين والثلثاء فانه اليوم الذی عافي الله فيه ايوب ، وضربه.

بالبلاء يوم الا ربعاء فانه لا يبدوجزام ولا برص الا يوم الاربعاء وليلة الا ربعاء (الترغيب والترهيب، رواه ابن ماجه عن سعيد بن ميمون)

ترجمه: دا روايت دے د نافع رضی الله نه چه ابن عمر رضی اللهعنهما هغه ته اوويل اے نافعه زما وينی جوش اووهه مالره ښکر لګونکے اوګوره اووي ګرزوه ملګري که دي طاقت وی اومه ګرزوه بوډا اوورو کي ماشوم ځکه ما د نبیﷺ نه اوريدلی چه فرمائيلي چه حجامه په نهره باندي لګول زيات افضل دی.

او په دی کښې شفاء او برکت دے او زيات والي په عقل او حافظه کښې راولی او ښکر لګوئي دالله د نوم په برکت د جمعرات په ورځ اوځان ساتئ دښکر لګولو نه

دچارشنبې ، جمعې او خيالي د ورځ نه ده وجه دا تباع دحق نه او ښکر لګوئي د ګل او سه شنبې په ورځ دا داسې ورځ ده چه الله په دي کښې ايوب عليه السلام مجوړ کړے وو او مرض ورته د چارشنبې په ورځ لګيدلے وو ځکه جزام او برګے چه ښکاره کيږي نو دچارشنبې په ورځ يا په شپه دچارشنبې باندې ددي حديث نه يو څو خبرې معلومې شوې.

()يوه دا چه حجام به ملګرے وي که بل څوك وي هم جائز ده.

()حجام به بالکل بوډا نه وي او نا بالغ به هم نه وي نو معلومه شوه چه ځوان به وي.

()حجامة په نهره لګول پکار دي

()چه حجامه دګل او جمعرات اوسه شنبې په ورځ کول پکار دي .

()داچه د جمعې او خيالي او اتوار او چار شنبې په ورځ پکار نه دي.

()دا چه په دې حديث کښې د سه شنبې ورځ ذکر شوه او بل حديث کښې په دي ورځ منعه راغلي نو دا بهتره ده چه په دې ورځ ونه شي.

وعن کبشه بنت ابي بکرة عن ابيها انه کان ينهیٰ اهله عن الحجامة يوم الثلثاء ويزعم عن رسول اللهﷺان يوم الثلثاء يوم الدم وفيه ساعة لا يرقاء.(رواه ابو داؤد،مشکوٰة، الترغيب والترهيب)

ترجمه: دحضرت کبشه بنت بکرة رضی اللهعنهما نه روايت دے چه ددې پلار

(ابی بکره) به خپل اهل ته دښکر لګولو نه ده سه شنبی په ورځ منعه کوله او دنبیﷺ نه ئې نقل کړی دی چه د سه شنبی ورځ ده وینی د جوش ورځ ده او په دي کښې یو وخت دے چه په هغه کښې وینه نه ودریږی.

نو لهٰذا په دی ورځ باندی د وینی ویستلو په صورت کښ داسی اوشی چه وینه روانه وی نو د هلاکت خطره ده.

وقال ابو حسن الکنانی ؒ فی حدیث کبشه فیه بکار بن عبد العزیز لیس بشیء بحواله التعلیق الفصیح لیشخ عبد الجبار ص ۳۶

وعن معمر رضی اللهعن النبیﷺقال من احتجم یو م الا ربعاء او یوم السبت ، فاصابه وضح فلا یلومن الا نفسه.(رواه ابو داود التراغیب التراهیب)

ترجمه: حضرت معمر رضی اللہ عنہ دنبیﷺ نه دا ارشاد نقل کوی چه چا دچار شنبي یا دهفتی په ورځ ښکر ولګولو او برګے مرض ورته ورسیدو نو بیا دي خپل ځان ملامته کوی. دا احتیاطی خبري دی ځان ترینه ساتل پکار دی.

## (په روژه کښې ښکر لګول)

په حدیث کښې راځی افطر الحاجم والمحجوم چه روژه ماته کړه ښکر لګونکی او چا لره چه ښکر لګولے شوے وو نو علماء په هغه کښې تاویل کوی نو جائز دي د حدیث نه ثابت دي.

عن ابن عباس رضی الله عنهما قال احتجم النبیﷺوهو صائم.(صحیح بخاری)

دحضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دے واي چه نبیﷺ ښكر ولګولو او نبیﷺ روژه وو.

## (په ښكر لګولو اجرت اخستل)

د ښكر لګولو په عوض اجرت اخستل جائز دی دنبیﷺ دعمل نه واضح ده.

اخبر نا حميدى الطويل عن انس رضي الله عنه:انه سئل عن اجر الحجام ، فقال: احتجم رسول اللهﷺحجمه ابو طيبه ، اعطاه صاعين من طعام وكلمه مواليه فخففو عنه وقال: ان امثل ماتداويتم به الحجامه ، (رواه البخاری.رقم ۰)

ترجمه: د حضرت حميدى نه روايت دے چه دانس رضي الله عنه نه د ښكر لګولو د اجرت متعلق تپوس وشو نو هغه اويل نبیﷺ ښكر لګولے وو او ښكر ورله ابو طيبه لګولے وو، نو نبیﷺ د معاوضى په طور هغه ته دوه صاعه / سيره وزن طعام ورکړو اونبیﷺ ابو طيبه ته داقا (مالك) سره د ابو طيبه چه کومه دامدنئ حصه داقا دپاره وه د هغےپه باره کښې خبرى اوکړی نو هغوی دابو طيبه دامدنئ نه چه کومه حصه وه په هغے کښې کمي اوکړو. او نبیﷺ او فرمائيل چه بهترين علاج په علاجونو کښې چه کوم تاسو کوئی هغه ښكر لګول دی.

يوه خبره خو دحديث نه ده اُجرت اخستل ثابت شو اوبل ترينه عزت دهغه ثابت شو اګر چه غلام دے خونبیﷺ خومره عزت اوکړو چه دهغه

كومه ذمه واري وه هغه ېي پرې اسانه کړه.

## (د ښکر عامې فائدې)

()دويني په تيز والى کښې ارام روالي.

()مرضونه ختموي.

()د شفاء ميلاويدل.

()ښايئسته اُوسيدل دصحت دپاره اوتازګي په جوند کښ.

()دسر درد ختموي.

()فرشتو د رحمت نبیﷺ ته په دي نصحت کړے(مُرامتك)

() نظر قوي کوي او رنړا يي تيزه وي.

()دنبيﷺ كارونه دحکمت نه ډك وو او چا چه حجامه کړې هغه کامياب شوي او الله شفاء ورکړې. او عمل په حديث دنبيﷺ دے.

() عمل د ښکر لګونګی دا په حديث طب سره دي.(الترغيب والترهيب)

(٠)الرجي دپاره فائده منددے.

()دبدن په کومه حصه چه درد وي نو په هغه ځائی لګول فائده مند دی.

()داسلحې په وجه زخم دهغےدپاره هم ښکر فائده مند دے.

() دبدن سستي او په خيټه کښې ډير درد وي دهغه دپاره مفيد دے.

()په اوګو کښې اوپه سينه خيټه کښې درد وي دهغه دپاره مفيد دے.

()درحم بيماري شوه دغه رنګی ماهواری بندیدل ددي تکليفونو او ترتيب را تللو دپاره مفيد دے.

## (د ښکر لګولو دپاره ضروري اشياء)

()دهر شی دپاره الله څه احتياطی تدبيرونه پيدا کړی کله داسی وشی چه بغير ددينه الله وکړی خو اسباب استعمالول سنت عمل دے حجامه کښې څلور څيزونه استعمالول ضروري دی.

()دستانی يعنی لاس پيلی صرف يو ځل استعمالول.

()ټوشو پيپر.

()صرف يو ځل نوي بليډ استعمالول.

()دښکر لګولو دپاره ګلاس صرف يو ځل استعمالول.

## (دښکر لګولو طريقه)

ده طب نبوی نه علاوه چه کوم علاجونه دی هغه ډير په ګرانه کيږی او دوخت او پيسو تباهی پکښی وشی، او په طرقئ سره روان دے او مريضان يي د شمير نه بهر دی اصل حقيقت دادي چه هغوی ته خپل کار کار ښکاری او هر چه پيغمبری

علاج دے هغه انتهائی اسان دے او زده کوونکی ډیر زیات کم دی اصل وجه درته وایم چه هغه بخل او شوم توب دے او دخپل دین نه نا خبری ده.
یو حاکم او طبیب او دغه رنګی ښکر لګونکےدانه کوی چه یو ه نسخه مسلمان ته اوخائی دومره پوري مو اوریدلی دی چه په لکهنو دیوي نسخې مطالبه شوےده او انکار ترینه شوے . اصل خبره په طبابت کښې د الله رضا ده څکه په نیت د عبادت علاج کول ځانله مستقل عبادت دے نو ایا ډاکټر انو او طبیبانو لره پکار نه ده چه په عبادت کښې زیاتوالے وشی ولی نه ضرور پکار دے.

اوچه کوم زائی به زخم وو هغه به ټیپه بلیږ اووهلو او دښکر تیره طرف به ي په داغه ځائی کیخودو او په تیره طرف به ئی ځان ته راښکلو نو هلته به ګنده وینه جمع شوه او رابهر به شوه نو الله به هغه کس ته شفاء ورکړه الله رب العزت د مخلوق په کمزورئی پوهه دے وخت په وخت اسانی پیدا کوی.
(لا یکلف الله نفسا الا وسعها) ترجمه: الله انسان ته دهغه دوس مطابق تکلیف ورکوی.

اُوس مونګه حجامه دګلاس او مشین په ذریعه کوو انتهائی اسانه طریقه ده ، هر انسان نر او ښځه ي په یوه ګینټه کښې په اسانئ سره زده کولي شی.

## (طریقه ئې داده)

()اول به دربړ لاس پيلي يعني دستانی په لاس کړی او په کوم ځائی چه درد وی هغه ځائی به ښه صفا کښې که ويښته وی نو هغه به په سيفتی ريزر يا بليډ صفا کړی ځکه بيا ګلاس په څرمن نه کلکيږی په ګلاس کښې دننه طرف ته وړکےټوشو پيپر ته به اور ولګوي او ورته به ئی اوغورزوي او ګلاس به ددرد په ځائی ده لاس په زور کيږدي چه ټوشو پيپر ته اور ولګی نو دننه ګلاس کښې اکسيجن ختم شي ګلاس مينځ کښې خالی وی او دبهر هوا ددباو په وجه ګلاس په څرمن پسی کلك شی، او دننه چه کوم دباو دے دهغه په وجه د مريض څرمن اوپړسيږی او ګلاس دننه حصه دنيمی کرّه په شکل شی او وينه د څرمن په بره طرف جمعه شی. دغه رنګی طريقه د مشين هم ده.

()ګلاس به په دغه ځائی پنځه مينټه پاتی وی بيا به ي د ګوتو په مدد سره جدا کړی. اوکه مشينی ګلاس وی نو د سر د طرف نه به ئې د هوا نه تش کړئی.

()دڅرمن پړسيدلي حصه به په بليډ لږه لږه په مزه سره اووهی ليکن بليډ به رګونو او پټوته نه وروړی.

()کله چه بليډ د کاغذنه اوباسی نو د تيره طرف سره به ي لاس نه لګوی په ديکی مکمل احتياط ضروری دے.

()ددينه روستو به ټشو پيپر ته اورولګوی او ګلاس ته به ي او غرزوی ددي دپاره چه اکسيجن دمړه کيدو سره دننه خالی ځائے.

کښې رس جمعه شي او ګلاس به بيا دغه رنګی پنځه مينټه کيږدی ، ددي دپاره

چه جمعه شوی وینه جمعه شی بیا به ګلاس اوباسی .

()بهتره داده چه ښکر په هغه ورځو کښې ولګوی چه کومی ورځی نبی کریمﷺخودلی یعنی د اسلامی میاشت ، ، تاریخ دضرورت مطابق په نورو ورځو کښې هم لګولے شی دغه رنګی ایام البیض یعنی د اسلامی میاشتی ، ، تاریخ.

()ښکر سحر وختی لګول پکار دی او دا اهمه ده چه خالی خیټه وی، دروټی دخوارك نه بعد څلور ګهینټې او دسګاك نه بعد یوه نیمه ګهنټه معده خالی وی.

()دښکر لګولو د مکمل کولو نه بعد ،دستانی ،ریزر بلیډ او ګلاس په احتیاط سره ضایع کول پکار دی دویم ځل استعمالول نه دی پکار بهتره داده چه په زمکه کښې دفن شی ځکه نبیﷺ حکم فرمائیلي دي.

()دښکر لګولو نه بعد به غسل اوکړی دا مستحب ده ، او یوه ګهنټه به څه نه خوری د ګهنټی نه بعد به ښه خوراك اوکړی.

(۰)لکه څرنګه چه نبیﷺ فرمائیلی دی چه دخپلو بیمارو علاج په صدقی سره وکړئ ددی ده وجی نه مریضانو ته د صدقی تلقین کوئی چه څه نه څه صدقه ورکړی ، او د شکر انی او شفاء په نیت باندی دوه رکعته نفل اوکړی چه الله رب العزت درله په سنت دعمل کولو توفیق درکړو.

## (خبرداری)

ددی خبری خیال ساتل پکار دی چه کله ګلاس استعمال شی نو په دویم انسان

باندی استعمالول نه دی پکار ځکه که استعمال شی نو بیا دهیپاټائټس B تورزیږي او دC ایډز خطره ده.

دحجامه دپاره په مارکیټ کښې آلات شته دے داسی الات ډیر خطرناك دی چه دغه ګلاس بار بار استعمال شی لهٰذا ددی د استعمالولو نه بالکل پرهیز پکار دے. (جزاکم الله)

## (دښکر لګولو دپاره احتیاطی تدبیرونه)

()کمزوری او زیات خوار افراد دی ښکر نه لګوی.

() دجګر په سختو مرضونو مبتلا شوی افراد لره حجامه نه ده پکار.

()د اسقاط مریض لره حجامه نه دي پکار.

()دلامبلو نه روستو حجامه نه دی لګول پکار.

()داولتیو نه روستو ښکر لګول نه دی پکار.

()دګردو صفا کوونکی مریض لره د طبیب په مشوره باندی حجامة لګول پکاردی.

()د زړه مریض لره ندی پکار.

()دزړه بدلیدلو واله حضرات دي حجامه نه لګوی البته کهدیو ماهر په نګرانئ

کی وشی نو صحیح ده.

(٠) دحجامت لګولو نه روسته دي يو ګنټه د خوراك نه پرهيز وکړی.

() دزنګنونو سوزيدل په صورت کی دي حجامه ددي دپاسه نه لګوی بلکی جدا دي لګوی.

()هيموپيليا(Hemophilia )او د وينی چه په هغه کی وينه نه ودريګی بليږ لګول او حجامه پکار نه ده (ځکه چه د دي فن ماهرين ددي علاج کوی)

() هغه بيمار چه دوينی رفتار يي کم وی په دی صورت کی ملاته نزدی شاه رګ ته قريب حجامه لګول ندی پکار. حجامه وقفه په وقفه لګول پکار دی په يو وقت کی ديو يا دو ونه زيات لګول پکار نه دی.

()دوينی د کموالی مريض ديو حجامه لګولو نه روسته دهغه کيفيت او قوت برداشت مد نظر ساتل پکار دی د بی هوشئ په حالات کښې د حجامه ټولو الات لری کول پکار دی او مريض باندی خوږ شربت څکول پکار دی.

()نوي بيمار داول نه ذهنی طور باندی تيارول پکار دی ددے دپاره بهترين طريقه داده چی بل بيمار ته دي دحجامي په وخت کښې او ګوری او دحجامي فوائد دي ورته بيان شی.

() حامله زنانه دي اول دري مياشتو کښې حجامه نه لګوی.

()دحجامه لګولو نه مخ کښې دي دمريضانو ددی بيمارانو تپوس اوشی. ذيابيطس دزړه مرضونه دوينی مرضونه ، سرطان د پلوشليدل او د زنګونو نو

پړسيدل.

()زنانه له حجامه لګولو والا دي محرم وی يا دي بله زنانه حجامه ولګوی په صورت د مجبورئی کښې سړی هم لګولي شی.

()دوينې ورکونکی دي فوراً حجامه نه لګوی بلکی دوه يا دری ورځی روسته دی ولګوی.

(۰)دنشې والا دوا ياٸنې خوړونکی دی حجامه نه لګوی تر هغه وخته پوری چه کله ئی ددي استعمال نه وی پريخې. هم دغه رنګي خوف زده سړي يا ښځې لره هم حجامه نه دی لږول پکار چه کله په سکون شوی نه وی.

()که چرته يو بيمار په زړه کښې (Pacemakers) جوړ بنت لګولي وی نو دده په زړه باندی حجامه نه دی لګول پکار.


()هغه بيمار چه دډيرو دواياٸنو د استعمال دوجي نه دهغه وينه نرمه او کمزوري شوي وی دي لره حجامه نه دی لګول پکار تر دی چه دا دواياٸنې پريږدی او وينه خپل اصلی حالت ته راشی.

()ذيابيطس (Di Abeies) چه کله دشوګر بيمار حجامه لګوی نو په دغه ورځ دی سحر وقت کښې دخپل شوګر معاٸنه اوکړی شوګر تقريباً 3 100mg دا وی نو حجامه دی اوشی خو پټری دی په مزه مزه راکاږی.

## خبرداری Worning

()ډرائی کوپینګ Drycupping (وچه حجامه) دهغه دی دننه پټری ونه لګی زمونږ تجربه داده چه دا ډیر مفید ندے ځکه نبی علیه السلام فرمائی مفهوم ئی دا دي چه شفاء د کټکونکی دپټری په تیره طرف کی ده.
()زمونږ رائی داده چی ده بلیډ لګولو نه مخکښی 5فیصد هائیلو کین کریم Hylocain cream میلاو کړئی او فوراً ګلاس اولګوئی او پړدی کښې ماشومانو او لویانو یا غټانو ته تکلیف کم وی.

# دحجامه په ذريعه د جرمن طريقه علاج مطابق د ممکنه ځاينو خودنه




**تنبيه:**


**دا نشانات د تجويز کولو په درجه کښې دی په ټولو ځاینو لګول ضروری ندي. ډیر ځله په یو یا په دوو () مقاماتو حجامه لګولو سره مریض ته شفاء میلا ویږی. طبیب ته اختیار دي چه په څو مقاماتو باندی حجامه مناسب ګڼی ودی لګوی.**

## د جوړونو درد


## د لاسونو او پښو درد




# عرق النساء




# دڅټ اودملا درد دواړو ولو ددرمیان درد




# دملا درد




# دجوړونو درد




# د بدن دهډوکي يا د جوړ حصه کښې پړسوب راتلل




# فالج




# ستڑے والے




# دپښو درد




# دا انسان حفاظتي قوت کښي کمی را تلل




# د لاسونو اوده کیدل




# په بدن کښې دويني حرکت صحيح کول




# دزنګون او د پنډۍ درد




# د پنډو اوده کېدل او په ښځې درد




# دنوم وتل




# دخیټې درد




# دسينى درد




# دست



# دخيتي په لاندې حصه درد




# دپتون درد




# دشرمګاه‌نه‌وینه


# تلل




# دمل درد




# دتشومتيازوداعضاءمسائل




# د بدن څه حصه خرابيدل (كينسر)




# زكام




# دانسان په خواهش کښې کمی را تلل




# ټي بي او د سینې بیماري




# زكام




# دوينى رفتار كميدل او دا نسان نه بول په غير ارادى طور را تلل




# بلڈپریشر




# دكردى درد




# خيټه سوزيدل، خوراك صحيح نه هضم كيدل، دخيټې زخم.




# دغتې کولی مسائل




# دگردی کانړے




# دست




# قبض




# په مثانه کښې کيړې مکوړې چينجې کيدل




# بول بنديدل دويني په ګردش کښې مسئله




# خوبنهراتلل




# ذهنی بے ارامی




# ډیر خوب کولاو دورغوي درد




# زړه خراب بيدل ولتۍ كول




# دشوګر بیماری




# دزړه بیماری




# دانسان شوكر كميدل



# دپړپوس بیماری




# زیریے




# چربي سيوا کيدل(په وينه کښ)


# دتريخي ګيتۍ




# دسينى بيمارى



# دتریخی بیماری او درد




# HCV تورزیرے




# دسینې زیږے

## دشپو در ګونو پړسیدل




# دپښتو درګونو پړسیدل




# دفاعي قوت كښي كمى


# حفاظتي قوت كښي كمى



# دچمړي بيمارۍ ياخارخ




# دګردې دوجنه په سر درد




# دسر ګنجی کیدل

# دمرئی مسائل




# چہرہ داغ داغ کیدل


# خارخ



# ولگەنەراتلل




# بدن غتيدل




# دقبض دوجی نه دسر درد


# دبدن وزن سِوا کیدل




# بي اولادي




# دسترګی دوجی نه د سر درد




# دعام سر درد



# دوينى د دبأو دوجى نه دسر درد




# دساه د وجی نه د سر درد




# د معدې د وجې نه د سر درد

# د ګردې د بیمارۍ د وجې نه د سردرد




# دزکام دوجی نه دسر درد

## او تبه راتلل




# د ذهنی دباو دوجی نه د سر درد




# د سينې د وجې نه د سر درد


# د ملا د هډوکي نه د سر درد




# دماغی درد یعنی نیم سر ے




# د وينى د كمى د وجې نه د سر درد




# د مرګي، غاښ، غوږ په باره کښې مسائل




# دستر کو بیماری




# گونگیدل




# د غوږونو تکليف




# دمغ فالج یا دمغ یو طرف ته کږیدل




# دزکام دوجی نه فوزه بندیدل




# خبر سصحيح نه کول چاړا کيدل




# په ذهن او حافظه کښې کمزوری




# جټکی راتلل مرګی




# دسګریټ نه بچ کیدل



# د پیدائش په وخت کښې د اکسیجن کمی




# دانسان دعقل کمزوری




# ده ځنانو بيمارى ډيره وينه ترينه تلل


# دحيض مدت كښې زياتى را تلل




# آكي




# ده ځنانو سپينه بيمارى يعنى وينه




# حيض بند يدل




# د پيغلو جينكو د حيض تكليف






# د ځنګانو د اندام مخصوصه نه سپيني او


# ټينګي او به راوتل چې بدبو يه هم وي



# د رحم د اپريشن نه روسته درد



# د وولو په مینځ کښې ښکر لګول



نبی علیه السلام پخپله پدی مقام حجامة لګولی دیته په عربئ کی الکاهل وائی لکه څرنګه چه علامه ابن قیم په طب نبوی کی داحدیث نقل کړے

انس رضی الله عنه فرمائی چه نبی علیه السلام دګلوپه دونو طرفونواودولوپه میانځ حجامه لګولی وه.

ډاکټرمحسن صاحب دډیروزیاتوبیمارو علاج خودلے چه هغه لاندے لیکلی شویدی

۱۔ دبیماری خلاف قوت صحیح کول
۲۔ ټول بدن سلامت کول
۳۔ دسر درددوجے داعصاب نه
۴۔ دنیم سردرد

نظر تيزول.

دسترګو رګونه مضبوطول.

دسترګي نه بيماری لري کول.

دسترګي سوے.

. سترګي کيګيدل

..دچمړي داغ

دچمړي نقصان.

دبدن پوخ زخم.

ويښته غورزيدل.

دزنانو په مخ ويښته

په رګ کښې وينه جمع کيدل


دزړه اټيك

۳۵۔ په جسم کے خرابی راتلل
۳٦۔ په لاس اوخپون باندے خوله راتلل
۳۷۔ په رگ کی نقصان راتلل
۳۸۔ دوینه چربی کمول
۳۹۔ دشوگر دپاره
۴۰۔ وینه دجراثیم نه پاکول
۴۱۔ دوینی دهارمون صحیح کول
۴۲۔ دگردے دکانڑے علاج
۴۳۔ ده سینی دبیمارئی علاج
۴۴۔ دگیلنڈر دبیمارئی علاج
۴۵۔ دA ژیړی دپاره
۴٦۔ دوینے دپریشر دپاره
۴۷۔ دزهنی دباو دپاره
۴۸۔ ددماغون دبیمارئی دپاره
۴۹۔ دبندمستی خوب زیاده راتلل دپاره
۵۰۔ ویرے دپاره
۵۱۔ پاگل کیدل،لیونی کیدل
۵۲۔ زهنی خیالات ډیر پدل
په وجود دانے راختل
د وائرس په وجه چې انسان ته بیماری اولگی نو د انسان په وجود کښ
د بیمارئی خلاف طاقت پیدا کیری

۴۵۔ دملادرد
۴۶۔ دجسم درگونو دپاره
۴۷۔ دانسان دمنی دپاره
۴۸۔ دزنانه دبیمارئی دتکلیف سره راتلل
۴۹۔ دماشوم نه پس مسائل
۵۰۔ بے اولاددپاره
۵۱۔ دزنانه په رحم کی دانه راتلل
۵۲۔ حیض پیدیدل
۵۳۔ دماشوم پیدائش کے مسائل
۵۴۔ دبدن جوړیدل
۵۵۔ دجوړونوں درد
۵۶۔ دکمر،سٹ اومرے درد
۵۷۔ دجوړونوں بیماری
۵۸۔ دمعدیے زخم
۵۹۔ دهاضمے دپاره
۶۰۔ دانسان نه وینه تلل په پیشاب کے
۶۱۔ انگی
۶۲۔ دزبان مخ بیماری

۶۵۔ داورئی زخم
۶۶۔ دگزاردوجے نه بهره کیدل
۶۷۔ غوگونو
۶۸۔ زیږے
۶۹۔ ددوائی اودخوراک دوجے نه غلط اثر
۷۰۔ دزناورد چیچلو دوجے نه
۷۱۔ دزړه دبیماری دوجے نه دساه تکلیف
۷۲۔ دماغی مسله
۷۳۔ زکام
۷۴۔ دانے
۷۵۔ شیرے
۷۶۔ نکتی اودانے

# دپنډو په شاه طرف ښکر لګول



په دی مقام ښکر لګول دلاندی بیمارو علاج دے

١. دمهور گوتو دپاره
٢. دمهور خارخ
٣. دسینے بیماری
٤. حیض بند کیدل
٥. په ټول بدن باندی خارخ
٦. دنشے نه خلاصی
٧. فرژه بیماری

۱۰۔ دپښو مسله

۱۱۔ دنیم بدن پخوالے

۱۲۔ دوائرس دوجے نه بیماری راتلل


۱۳۔ دنیم بدن اوده کیدل

۱۴۔ دملا درد

۱۵۔ په بدن کی دهډو کے حصه غټ کیدل

۱۶۔ په وینه یا بدن دیوریا ،یادسری زیاتیدل

# د شاه رګ په لاندې حصه ښکر لګول



## په ده مقام حجامه لګول دلاندې بیمارو علاج دے

١۔ دمغ بیماری
٢۔ دملا درد
٣۔ دحیض شکایت
٤۔ دمنی کمزوری
٥۔ بواسیر
٦۔ دچمړی خارخ
٧۔ دانسان نه ډیره اوبه تلل
٨۔ دانسان دبدن دهډوکی یو حصه غټ کیدل
٩۔ دشپې خوب نه راتلل

د انډو د رګونو پړ سیدل

۱۲۔ دزنانه بیماری

۱۳۔ دخیټی بیماری

۱۴۔ په زنانه اومردانسان کی کمزوری راتلل

۱۵۔ دزنانه رحم صحیح کول

۱۶۔ درحم رسولی (دانے)

۱۷۔ دماشوم خیټی سوزیدل

۱۸۔ دغدو دبیماری

۱۹۔ دمثانے کمزوری

۲۰۔ په پیشاب کی وینه راتلل

۲۱۔ دانډام مخصوصه سوزیدل

۲۲۔ دبچی دانی کمزوری

۲۳۔ زنانوپه مخ ویخته راتلل

۲۴۔ سینه اوبو دزنانو

۲۵۔ بارباریپشاب راتلل

۲۶۔ دپیشاب سوزش

۲۷۔ زنانه شنډا کیدل،دنارینه په قوت کی کمزوری راتلل

# په کوناټو حجامه لګول




په دی ځائے باندی حجامه لګولو سره دلاندی بیماریانو علاج کیګی

۱۔ دملا درد مهری دوجی

۲۔ دانجکشن یعنی دستنی دوجے نه زخم راتلل


# د غوږ په دننه کناره ښکر لګول



په دی مقام باندی حجامه لګولو سره دلاندی بیماریانو علاج کیږی

١- ولګه راتلل
٢- زکام
٣- ډیر خواهش کم کیدل

# په څټ ښکر لګول




په دی ځای حجامه لګولو سره لاندی بیمارو علاج کیګی

۱۔ نشه کمول

۲۔ لیونے (پاګل)

# په کم ځائی چې درد یا تکلیف وي حجامه لګول



**په دی مقام حجامه لګولو سره دلاندی بیماریانو علاج کیګی**

**۱ـ دماغ بیماری**

**۲ـ وینه په یوزائے جمع کیدل دلاس**

**۳ـ خوږ زخم**

**۴ـ ددرد دپاره**


**۵ـ دپټو درد**

**۶ـ دپټواوپټوپه حرکت کی کمی راتلل**

۷- دلاس او ښنګل درد
د پلو راغونډیدل

۸۔ په پوزه کې غوښه کېدل
۹۔ دسترګود بڼو کمزوري
۱۰۔ فالج
۱۱۔ نظرتيزيدل
۱۲۔ دسرويښته غورځيدل
۱۳۔ دناريتوپه مخ ويښته
۱۴۔ زخم سوا کېدل
۱۵۔ په زخم کې چينجي کېدل
۱۶۔ په سترګه ګل
۱۷۔ دانسان جسم سوزيدل
۱۸۔ دغوږونو مرکنډئي کې زخم
۱۹۔ دبدن سوزيدل داوردوجے نه
۲۰۔ دبسترے دوجه نه زخم
۲۱۔ چه کله دانه وي هغے ته نژدې لګول
دبدن څه حصه سوزيدل

# داوګو په لاندې حصه حجامه لګول



## په دې ځائے خکرلګولوسره ده لاندې بیماریانو علاج کیګی

١۔ دلاس فالج

٢۔ دسټ درد

٣۔ دسټ دهډوکوبیماری

٤۔ اټکے


٥۔ دمله درد

٦۔ زکام ډیرکیدل

٧۔ دالرجی دوجے نه

# دولو په میانځ کښې ښکر لګول

**داداولنئی حجامه پښان دے صرف پدیکی به کٹ کیدل زیات وی**



**په دی ځائے حجامه لګولو سره دلاندی بیماریانو علاج کیګی**

۱۔ الرجی

۲۔ دانسان محسوس کول قوت زیات کیدل


۳۔ الرجی په وجه سالنڈیے مرض جوڑیدل

۴۔ دحشراتو دچیچلو دوجے نه ځائے سخا کیدل

۵۔ دغټی کولمے بیماری

۶۔ دغټی کولمے بیماری


# د ملا په مینځ کښې حجامه لګول



په دی مقام حجامه لګولوسره دلاندی بیمارو علاج کیګی

۱۔ ددمے علاج
۲۔ دساه تکلیف
۳۔ دبوئی قوت کی بیماری
۴۔ نمونیا کیدل
۵۔ دپهیپهړو بیماری
دمثانے غوټه

# د بهر طرف ګټې او پوندې په میانځ کښې ښکر لګول



۱۔ دخپو خارخ

۲۔ دخپے په رګون کی بیماری

۳۔ دملا درد


۴۔ دجوړونو درد

۵۔ دپوندی په پشو کی درد

د انډو د رګونو پڑ سیدل

# دسر دبره حجامه لګول

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دی مقام حجامه لګولي لکه څرنګه چه په حدیث شریف کی راځی نبی علیه سلام به دسر ده بره حجامه لګوله



په دي مقام حجامه لګولو سره د لاندی بیماریا نو علاج کیږی

.دسر درد

.دستركو بيمارى

.په ستركو دكاتى بيمار ياني


.دشتي نظر نه لكيدل

.دستركو داو خكو بيماريانى

۸- دغابش درد
۹- دسر دویختو بیماری
۱۰- دوه په نظر راتلل
۱۱- دلرے په نظر کی کمی راتلل
۱۲- (لیونے کیدل)زهفی بیماری
۱۳- لیونے کیدل
۱۴- دسر دویخو نشو نما
۱۵- دماغی مسله
۱۶- دوینے رفتار سیوا کیدل
۱۷- روحانی یاجسمانی بیماری
۱۸- دنشے بیماری
۱۹- دسر دچمڑے بیماری
۲۰- دلاسو،سر،چهرے،اودجسم گرمائش
۲۱- دستر گوبیماری

# د سر په شاه طرف حجامه لګول


په دې مقام دنبي علیه السلام حجامه لګول ثابت ده په عربئ کې دې ته قمحدوه وائي
دسر په شاطرف حجامه لازم کړلی ددی دپاره چه دادپنزو بیماریانو علاج دے



## په دے ځای خکر لګول دلاندی بیمارو علاج دے

۱۔ په عمرو کې بخل
۲۔ صحیح عمرے نه کول
۳۔ وسوسے راتلل
۴۔ ویره
۵۔ ویښته غورزیدل
۶۔ غوروزو ویښته غورزیدل
۷۔ لګ لګ اوریدل
۸۔ بدن او قد لویدل
۹۔ دمجبورئي حالت
۱۰۔ دہوئي قوت تیز کول
۱۱۔ سالنډے
۱۲۔ دستر ګو بیماری
۱۳۔ چمڑه سره کیدل

# په تشو باندي حجامه لګول



## په دی مقام حجامه لگول دلاندی بیماریانو علاج دے

۱۔ دگردے دوجے نه په پیشاب کی زخم

۲۔ کانړی

۳۔ دگردے په رگونو کی فرق

۴۔ دگردے درد

۵۔ دگردے بیماری

۶۔ شوگر

۷۔ دگردے دوجے نه دوینی رفتار سیوا کیدل

# د زنگون د بره او په دننه طرف باندې ښکر لګول



## په دی مقاماتو باندی حجامه لگول دلاندی بیماریانو علاج دے

۱۔ په زنگون باندی درد


۲۔ ده زنگون پړسوب

۳۔ په زنگون کی وینه زوه راتلل

۴۔ په زنگون کی زخم

۵۔ په زنگون کی وینه جمع کیدل

# په زنه باندې ښکر لګول



په دی زائے خکر لگول دلاندے بیماریانو علاج دے

۱۔ دغاښ سوزش

۲۔ دمغ بیماری

۳۔ داورڼی نه وینه تلل

۴۔ دمرئی بیماری

۵۔ دخولے کگیدل

۶۔ زبان( اینخل)

۷۔ دزنانو په مخ ویخته راتلل

۸۔ ویخته غورزیدل

د حلق او پوزے یوه بیماری ده

# د غوږ شاته ښکر لګول



په دے ځائے حجامه لګول دلاندې بيماريانو علاج دے

۱- دماغي بيماري

۲- زکام

۳- دغوږ بيماري

۴- دمنی کمزوری

۵- دنیم سردرد

## مؤلف کے دیگر تالیفات

(1) کتاب الحجامة پښتو .................... مطبوع
(2) حوارات المسلم عربي .................... مطبوع
(3) حوارات النسوة عربي .................... مطبوع
(4) حوارات ابناء الاسلام .................... غیر مطبوع
(5) حوارات بنات الاسلام عربي .......... مطبوع
(6) حديقة المسلم عربي ................. غیر مطبوع
(7) حديقة النسوة عربي ................. غیر مطبوع
(8) تذکرة بیاد شیخ اردو ..................... مطبوع
(9) اتحاد الامت پښتو ......................... مطبوع
(10) معارف الاحوال لاصلاح عمل الاطفال پښتو مطبوع
(11) اسان اصول فقه پښتو ................ غیر مطبوع
(12) لغة الاطفال عربي ...................... مطبوع
(13) ميزان الصرف عربي ..................... مطبوع
(14) صرف بهائی عربي ...................... غیر مطبوع
(15) مه غمژن کیږه .......................... غیر مطبوع

(16) اسلامی نغمے پښتو ...................... غیر مطبوع
(17) دعوت الی الله غیر مطبوع
(18) روضة الاطفال مطبوع
(19) پښتو ترجمه اسان مونځ مطبوع
(20) ماحکم المیراث فی الاسلام مطبوع
(21) اَلْمُکَالَمَةُ بَیْنَ یَدَیکَ غیر مطبوع
(22) اسانه طریقه دقرآن مجید دحفظ مطبوع
(23) علم القرآن غیر مطبوع
(24) اهل القرآن ورجال القرآن غیر مطبوع
(25) پرسکون گهرانه اورحقوق نسواں غیر مطبوع
(26) المکالمه بین النساء غیر مطبوع
(27) ثلو ینبت دعاګانی او ثلو ینبت حدیثونه مطبوع
(28) عظمت قرآن بزبان قرآن غیر مطبوع
(29) الجرح والتعدیل وظوابط التحقیق والتخریج غیر مطبوع
(30) اصول الحدیث فی حدیث الرسول غیر مطبوع
(31) توحید باری تعالٰی سے متعلقه شکوک وشبهات کاازاله غیر مطبوع
(32) پښتو ترجمه رہنمائے اساتذه مطالعۂ قرآنِ حکیم غیر مطبوع
(33) پښتو ترجمه مطالعۂ قرآنِ حکیم جلد اول غیر مطبوع
(34) پښتو ترجمه مطالعۂ قرآنِ حکیم جلد دویم غیر مطبوع

(35) **پښتو ترجمه خير الاصول فی حديث الرسول مطبوع**

(36) *فتنوں میں مؤمن کا کردار* **غیر مطبوع**

(37) نور القرآن **غیر مطبوع**

(38) فکری جنگ **غیر مطبوع**